

کبیر ستوری
Kabir Stori
ویره
(د ساپوهنې په رڼا کې)
د وېرې نظريې، پيمانه او درمل
Wira ( Fear )
(Psychology)
دریم چاپ
ختیځ بیارغونې اداره (کور)
Khatiz Organization for Rehabilitation (KOR)

**کبیر ستوری**

**Kabir Stori**

# ویره

# Wira

## د ساپوهنی په رڼا کې

## د ویرې نظری، پیمانه او درمل

### ټونبه

خپل درووند مشر اجمل خټک ته چې د پښتون قام دسمسورتیا لپاره ئې ډېر نیالګئ کرلي دي.

ډوکتور کبیر ستوری

Dr. Kabir Stori
Kiebitzweg 12
50389 Wesseling
www.kabirstori.com
E-Mail: stori@kabirstori.com

# د کـــتاب پیژندنه



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ویره |
| لیکوال: | ډاکتر کبیر ستوری |
| خپرونکی: | کور |
| چاپ نېټه: | ۱۳۸۰هـ ل ، ۲۰۰۱ع |
| مهتمم: | ډاکټر محمد فرید بزګر |
| چاپ شمیر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| کمپوز: | ملکزی ساجد/ د کور خپرونو ځانګه |
| ډیزاین : | کور خپرونو ځانګه |
| چاپ لګښت: | ختیځ بیارغونې اداره (کور ) |
| د خپرونو لړ: | ۳۲ |

د انټرنیټ په مخ

کمپوز : نسیم خان ستوری

ترتیب : ایمل خان ستوری

د ریم چاپ



په عکس کې ښي اړخ ته د پښتونخوا د قومي پارټۍ مشر خان لالا محمدافضل خان چې ددې کتاب سریزه ئې لیکی ده، مینځ کې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند مشر ستوری چې دا کتاب ئې لیکلی دی او کیڼ اړخ ته د عوامي نیشل پارټی مشر اجمل خټک چې دا کتاب ورته توښه شوی دی لیدل کیږي.

# سرلیکــــونه

| | | |
|---|---|---|
| سریزه | یادونه | د ویری پیژندګلوی |
| دویری کور کلي او رول | ویره د خیړنی د موضوع په تو ګه | د ویری تعریفونه : |
| د ویری او ډاراستلاګانی | د ویری ډولونه | پیبلي ویر |
| نا پیبلي ویره | د ویری بدرګی | ویره میراثی او که زده شوی احساس دی |
| ویره میراثی احساس دی | ویره زده شوی احساس دی | درایادیدوقانونونه |
| د میلر ازمیښت : | لنډیز | د ویری پیداښت او نظرئي |
| د ځیرموند قراید د ویری نظرئي | د فراید د هڅو ګڼنه | ساایز جوړښت |
| ساایز لړونه | د اودیپوس احساس | د ځیرموند فراید د ویری لومړی نظریه |
| د ځیړ موند فراید د ویری دوهمه نظریه | د فراید په نظریه د ویری منځ ته راتګ | د بیلتون خطر |
| د ګرانښت د ناسو بتیا خطر | د خسی کیدو خطر | رښتینی ویره |
| غیری رښتینی یا ناروغه ویره | د وجدان یا اخلاقی زه څخه ویره | د ویلهلم راییش د ویری نظریه |
| دالفرد اډ لر د ویری نظریه | د خوشحال « ختک » د ویری نظریه | د یونګ د ویری نظریه |
| لنډیز او تبصره | د ویری تلل او پیمانه کول | د ویری تله |

| | | |
|---|---|---|
| د ویری تول | ارزښتنه او نتیجی | د نتیجو مانا |
| د ویری درمل | د ویری جسمانی یا طبی درمل | د ویری ساوال درمل |
| دننی خطر | باندینی خطر | رښتیانی خطر |
| غیری رښتیانی خطر | ښکاره خطر | پټ خطر |
| د پاټکی په پاټکی اشنا کولو لاره | منطقی لاره | د تمرین لاره |
| د ویری د ځینو څیړنو لنډی نتیجی | ویره او زده کړه | ویره او تنګسه |
| ویره او هوښیارتیا | ډار او مالوت | ډار او مشرتوب |
| خوښنه | اخستونځي | |

# سریزه

« ویره » ډاکتر کبیر خان ستوری چې د سایکالوژی ډاکتر دی په اسانه کلیواله پښتو ژبه کې د ساپوهنی یو ډیر مهم کتاب لیکلی دی. ډاکتر کبیر خان ستوری نه یوازی د ساپوهنی ماهر دی بلکه په سایسنی علومو کې پی ایچ ډی دی او ډیر پیاوړی وطنپال او پخپله پښتو ژبه قربان دی.

« ویره » ده ماته د سریزی د لیک لپاره رالیږلی ده . زه پخپله په ساپوهنه کې ډیر کم علم لرم خو چونکه ډاکتر کبیر خان ستوری ځما سره بې کچه مینه لری نو همدغه وجه ده چې سریزه ئې ځما په زیمه کړیده.

« ویره » ما ولوستله کبیر خان د ساپوهنی ډیر پیچلی لفظونه او نظری په ډیره اسانه او کلیواله ژبه کې بیان کړي دی د « ویری » د لیکلو په وجه کبیر خان د خپل پښتون قوم ډیر زیات خدمت کړی دی. ځکه چې د پښتنو ژوند د وړوکوالی نه د ویری مختلفو قسمونو لکه د بلا او ببو ویری، د غربت ویری، د تربګنی ویری، د اسمانی افتونو ویری او نوری داسی ډیری ویری چې د دوئ نه راچاپیره دی تبا او برباد کړی دی.

د « ویری» په لوستو سره به پښتانه د ویری په حقیقت پوه شی او بل به د پښتو ژبی پراخه لمن چې تر ډیره حده تشه پرته ده څه پانګه حاصله کړی.

زه د یوه پښتون وطنپال په حیث د ډاکتر کبیر خان ستوری دی هڅی ته ډیر د قدر په نظر کورم او د نورو تولو پوهانو نه دا ارزو لرم چې که هغوی هم د علمونو په مختلفو اړخونو کې داسی هڅی وکړی نو د پښتو ژبی دا تشه لمن به ډیره ژر ډکه شی او پښتو به د نړی د پرمخ تللو ژبو سره د سیالی جوګه شی.

محمد افضل

بره درشخیله سوات پښتونخوا

# یادونه

که څه هم نن سبا په پښتونخوا کې د کتابونه بازار ګرم ندی او په تیره بیا د پوهنیزو کتابونو ، خو بیا هم ما ددی ټینګ هوډ او عزم کړی دی چې د ډیری زیاتی اړتیا په پرته خپلی ټولی لیکنی به په پښتو ژبه کوم تر څو چې په پښتو کې پوهنیزه پانګه ډیره شی.
که چیرته ټول پښتانه پوهان څه نا څه لیکنی په پښتو ژبه وکړی او خپلو بچو ته په مورنۍ ژبه معنوی پانګه پریږدی نو ژر تر ژره به د پښتو پوهنیز بڼ سمسور او زرغون شی.
د پوهنیز لیکنی ډډ د رښتیا او سمو مالوماتو څخه ډک وی چې په داسی لارو یا لاری ( طریقی ) لاس ته راغلی وی چې د ځای او وخت پوری ښکیل نه وی او د تکرار وړ وی یانی ( یانی ) هر څوک چې وغواړی دغه لارنیولی شی او همدغی نتیجی ته رسیدلی شی. سم او رښتیا مالومات کیدای شی چې یو تن د مختلفو لارو او یا مختلفو کسانو د یوی یا ډېرو لارو راټول کړی وی. نو ښه او غوره پوهنیزه ( علمی ) لیکنه هغه ده چې د خپلو او پردو مالوتو او نظریو توپیر پکې شوی وی یانی ( یانی ) لوستونکی پدی پوه شی چې دغه مالومات او نظریه د بل لیکوال ده چې ده تری ټکی په ټکی او کټ مټ را اخستلی او که په خپلو تورو سره د هغه نظریه او مالومات راوړی او څرګند کړی دی او یا دغه داسی مالومات او نظریه ده چې په عمومی توګه منل شویده.
د پوهنیزو مالوتو او نظریو دا بیلتون د پوهنیز لیک دود له لاری په ګوته او نښه کیږی پدی برخه کې په هغه ژبو کې چې د پوهنیز اړخه مخ په وړاندی تللی او ډیری پوهنیزی لیکنی پکې شویدی عمومی منل شوی لیک دود شته دی. خو زمونږ په ژبه پښتو کې چې د پوهنیزو لیکنو د پیل په پړاو کې ده لا کوم عمومی منل شوی لیک دود نه شته دی.
دا چې په پښتو ژبه کې پوهنیزی لیکنی تراوسه پوری شوی او لدی کبله د پوهنیزو لیکنو د پیل په پړاو کې راځی نو مونږ د پوهنیزو پر مخ تللو ژبو په پر تله زیات دې ته اړ یو چې د نورو ژبو د پوهنیزو لیکنو څخه استفاده وکړو او ګټه تری واخلو.

دلته مونږ د ژباړې د ربړې سره مخامخ کیږو. دا ربړه یوازې د پښتو ژبې په پوهنیزو لیکنو کې پرته نده بلکه نورې ژبې ورسره هم پخپل وار سره مخامخ شویدي او حل کړیده.

د جرمنیانو په ژبه ډایچ (Deutsch) کې د پوهانو په مینځ کې پدې اتفاق راغلی دی چې د انګریزي او فرانسوي ژبې متن دې نه ژباړل کیږي که چیرته پرې ټکی په ټکي حواله ورکول کیږي نو پخپله په انګریزي او فرانسوي ژبو لیکل کیږي او د نورو ټولو ژبو متن ژباړل کیږي. ددې خبرې علت دا دی چې تقریبا ټول الماني پوهان په انګریزي او فرانسوي ژبو ښه پوهیږي او یا دومره پرې پوهیږي چې مطلب ترې اخستلی شي لدې کبله ئې حاجت ژباړې ته نه شته دی. خو دغه هغه کسانو ته چې په دغه دواړو ژبو نه پوهیږي ستونزې پیښوي او د پوهنیزې لیکنې مطلب او مفهوم ته ښه رسیدلی نه شي او نښتون ئې ترې ګډوډ کیږي. لدې کبله پکار ده چې د نورو ژبو متن چې ټکي په ټکي پرې حواله ورکول کیږي خامخا په پښتو کې وژباړل شي. د ژباړې په هکله پکار ده چې ووایو چې په دوه ډوله ده : تړلې ژباړه او ازده ژباړه.

۱ ) تړلې ژباړه : تړلې ژباړه ټکي په ټکي ژباړه ده چې جملې پکې تیروبیر شوې نه وي او یوازې فاعل او مفعول او فعل ته د خپلې ژبې د قالب سره سمون ورکړ شوی وي. د ټکي په ټکي ژبای څخه مطلب لفظي او یا میخانیکي ژباړه نده. ژباړه تل د مانا او مفهوم له پلوه کیږي. د مثال په توګه د پاړسو د خرګوش میخانیکي او لفظي ژباړه دخرغوږ کیدلی شي خو سمه ژباړه ئې د مانا او مفهوم له پلوه سوی ده. ښه تړلې ژباړه هغه ژباړه ده چې بیرته په څټ وژباړل شي او اصلي متن ترې مینځ ته راشي.

۲) ازاده ژباړه: ازاده ژباړه په دوه ډوله ویشل کیدلی شي لږه ازاده ژباړه او ډیره ازاده ژباړه

**لږه ازاده ژباړه :** په لږه ازاده ژباړه کې مانا او مفهوم ساتل شوی وي خو جملې تیروبیر شوي وي.

**ډیره ازاده ژباړه :** په ډیره ازاده ژباړه کې پخپلو تورو سره دیوه متن د مانا او مفهوم لنډیز یا غټې ټکي را اخستل شوي وي.

په پوهنيز ليک دود کې پردی مالوت او نظرئې چې ټکی په ټکي رااخستل شوی او يا پخپلو تورو سره ويل شوی وی په نښه کيږی خو عمومی منل شوی نظرئې او همدغسی خپل نوښتونه او نظرئی نه په نښه کيږی. همدا خبره د ژباړو لپاره هم اتبار (اعتبار) لری. تړلی او ازاده ژباړه دواړه په نښه کيږی. خو تړلی ژباړه د ټکی په ټکی رااخستل شوو پرديو نظريو او مالوتو په ډله کې راځی او ازاده ژباړه پخپلو تورو سره د پرديو نظريو او مالوتو د څرګندونی په ډله کې راځی.
د ټکی په ټکی را اخستل شوو پرديو مالوتو او همدغسی د تړلی ژباړی پيل او پای د کوچنيو غبرګو لنديو يانی ددی نښې « » پواسطه د ليکنی د نورمتن څخه بيليږی او په پای کې پدی غټه لندیء ( ) کې په ګوته کيږی چې د چا او کوم کتاب څخه اخستل شويده. په خپلو تورو سره د پردیء نظری څرکندونه او همدغسی ازاده ژباړه يوازی په غټو لنديو کې په ګوته کيږی او د کوچنيو لنديو پواسطه ئې د پيل او پای بيلولو ته حاجت نه شته دی.
د ليکوال او کتاب په ګوته کولو لپاره دوه دوده شته دی. يو دا دی چې په لنديو کې يو شمير ليکل کيږی او بل دا دی چې په لنديو کې د ليکوال نوم او د کتاب کال ليکل کيږی. ښکاره خبره ده که ديوليکوال د دوو يا زياتو کتابونو څخه استفاده شوی وی چې په يوه کال کې ليکی وی نو بيا الف ب او داسی نوری نښې ورسره هم کيږی.
د کتاب يا مقالی په پای کې د اخستونځو د لاندی که د شمير دود پکار وړل شوی وی نو د شمير په ترتيب او که د ليکوالانو د نومونو او کال دود پکار وړل شوی وی نو د ليکوالانو نومونه د الفبا په ترتيب ليکل کيږی.
د هر ليکوال د نوم سره پکار دی چې د ده د کتاب يا مقالی نوم د چاپ ځای او کال او هغه مخونه چې استفاده تری شوی وی وليکل شی.
ښه دا ده چې په هره ژبه چې سړی د خپلی مقالی لپاره د بل کتاب څخه ګټه اخستلی وی په هماغه ژبه ئې په اخستونځو کې وليکی او که ئې د ليکوال د نوم او د کتاب د کال دود پکار وړی وی نو په لنديو کې په هماغه ژبه د ليکوال نوم په ګوته کړی ځکه څوک چې په هغه ژبه نه پوهيږی چې ليکوال تری استفاده کړی ده د هغه لپاره بی تفاوته ده او مجبور دی چې د ليکوال په دغه ليکنه قناعت وکړی او څوک چې پری پوهيږی هغه کولی شی چې دغه د اصلی کتاب د متن سره پرتله کړی.

زمونږ پدی کتاب کې د شمیر د دود څخه ګټه اخستل شویده. د ترلی ژباړی پیل او پای په غبرګو کوچنیو لندیو کې په نښه شوی او په پای کې په غټو لندیو کې د شمیر د لاری کتاب او لیکوال په اخستونځو کې په ګوته شویدی.
همدغسی لږه یا زیاته ازاده ژباړه هم په نښه شویده خو دغه په غبرګو کوچنیو لندیو کې نده نیول شوی او یوازی په غټه لندۍ کې د شمیر په مرسته سره هغه لیکوال او کتاب په ګوته شویدی چې اسفاده تری شویده.
په دومره اندزه سره زمونږ په عقیده د نورو ژبو پوهنیز لیک دود سړی اخستلی شی. یوه بله خبره چې د لږ څه فکر او غور وړ ده او هغه دا ده چې عمومی منل شوی نظر ئې په نورو ژبو کې نه په نښه کیږی. عمومی منل شوی نظر ئې داسی نظر ئې دی لکه ځمکه ګرده ده. پدی حالت کې ددغی نظر ئې په لیکوال یا نویستونی ( مخترع ) حواله ورکولو ته حاجت نه شته دی ځکه چې په لویدیزه ټولنه کې هر څوک پدی پوهیږی چې دغه نظریه د ګا لیلا (Galileo) ده خو دلته دا پوښتنه راپیدا کیږی چې په کومه پیمانه هغه نظر ئې چې په یوه ټولنه کې عمومی منل شوی وی په بله ټولنه کې هم عمومی منل شوی ګڼل کیدلی شی.
په هر ډول مونږ سمدستی پدی کتاب کې هغه نظر ئې چې په ساپوهنه کې په عومی ډول منل شویدی په نښه کړی ندی.
دا پکار ده چې هم وویل شی چې د پوهنیزو ژباړو په برخه کې یوه بله ستونزه دا ده چې هره پوهنه ځانته ژبه لری چې دغه ژبه کله نا کله د اولسی ژبې سره تو پیر لری. په نورو تورو سره دغه ژبه د یو شمیر استلاګانو ( اصطلاح ګانو ) چې د اولس په ژبه کې بله مانا ( معنی ) لری یا هډونه استمال ( استعمال ) کیږی جوړه شویده.
لدی کبله مونږ پدی کتاب کې د مهمو پوهنیزو استلاګانو سره اصلی لغات یا استلا په هماغه ژبه د کومی څخه چې مو اخستلی ده کټ مټ په لندیو کې لیکلی ده او ددی هڅه مو هم کړی ده چې د پوهنیزو استلاګانو په ژباړه کې د اولسی ژبې څخه ډیر وړاندی لاړ نه شو. کله چې د بلی ژبې د یوی استلا ( اصطلاح ) لپاره په پښتو ژبه کې ډیر لغاتونه یا مانا ګانی وی نو مونږ هغه مانا یا لغات استمال (استعمال) کړی دی چې د پوهنیزی ژبی د اصولو پربنسټ د لیکنی په نښتون کې سم بریښیده.

همدغسی که د پښتو د یوی استلالپاره په بله ژبه کې څو لغاتونه پکار وړل کیدل نو مونږ هغه لغات تری رانیولی دی چې د پښتو ژبی د استلا یا لغات تر ټولو سمه مانا ئې ورکوله.
سر بیره پردی د داسی لغاتونه په ځای چې په اولسی ژبه کې رواج ندی او د ځینو لیکوالانو له خوا په پښتو لیکنو کې استعمال شویدی مونږ هغه لغاتونو ته امتیاز ورکړی دی چې د پښتون اولس په بیلو بیلو پرګنیو کې پری خبری کیږی او رواج وی.
که څه هم مونږ د پښتو د لیک او لوست د سمون د نوی او غوره لیک دود څخه چې لیکل پکې هماغه شان کیږی لکه څنګه چې ویل او لوستل کیږی نه یوازی خبریو بلکی پلوی ئې کوو خو لا تر اوسه دغه نوی پښتو لیک دود د زاړه ملائی او میرزائی لیک دود چې د تپوس په ځای به ئې تفحص لیکو ټغر په بشپړه توګه ټول کړی ندی. خو تر هغی پوری چې دغه نوی پښتو لیک دود د زوړ ملائی لیک دود ځای ونیسی لږ څه وخت پکار دی تر څو چې هغه کسانه چې په زوړ لیک دود روږدی دی د نوی پښتو لیک دود سره اشنا او عادت شی. نو ځکه مونږ هم د پښتو د نوی لیک دود په چمن کې توندی منډی نه دی کړی خو ددی هڅه مو کړی ده چې د پښتو د نوی لیک دود د پیاوړتیا په لار کې یو ګام پر مخ لاړ شو او ځینی ټکی مو د زاړه لیک دود څخه په نوی لیک دود را اړولی دی خو سره ددی هم پدی لیکنه کې څه نا څه د زوړ ملائی لیک دود نښی نښانی شته. ځینو کسانو ته به دا پوښتنه پیدا کیږی چې په نوی لیک دود کې چې لیکل او لوستل یو شانته وی نو دا به د پښتنو هغه ټبرونو ته ستونزی پیدا کړی چې په بیلو بیلو لهجو خبری کوی؟.
ددی پوښتنی په ځواب کې ویلی شو چې په عمومی توګه په معیاری پښتو کې دوه لهجی منل شویدی. دغه لهجی د پښتنو د کولتوری مرکزونو پېښور او قندهار څخه راپاڅیدلی دی. د پښتو په نوی لیک دود کې دغه دواړو لهجو ته پوره پاملرنه شویده. هغه لغاتونه چې په پېښوری لهجی کې یو ډول او په قندهاری لهجی کې بل ډول ویل کیږی هغه په دوه غړه تورو لیکل کیږی. د مثال په توګه د پښتون نوم په پېښوری لهجه کې پختون او په قندهاری لهجه کې پشتون ویل کیږی.

دا نوم پکار دی چې په دوه غږه توری ( ښ ) ولیکل شی چې هم د ( خ ) او هم د (ش ) اواز ورکوی . همدغسی د ډیری لغات هم په پښاوری پښتو لهجه ګیره او په قندهاری پښتو لهجه ژیره ویل کیږی ددی لغات سمه لیکنه په دوه غږه توری ( ږ ) چې هم د ( ګ ) او هم د ( ژ ) اواز ورکوی یانی ږیره لیکل کیږی.
دغه نوی لیک دود د پښتو دپر مختګ په لور یو ګام دی خو پښتو ژبه به هله پیاوړی شی او وده به وکړی کله چې ئې لیک د پښتو د نوی لیک دود په رڼا کې په لاتینی تورو واړول شی.
دا به د یوی خوا پښتنو ته د بهرنیو ژبو په زده کړه کې اسانتیاوی پیښبی کړی او د بل خوا به بهرنیان هم وکولای شی چې پښتو په اسانی سره زده کړی او پدی توګه به پښتو ژبی ډیر ویونکی پیدا شی. سربیره پردی به پښتانه وکولای شی چې د نورو تخنیکی پوهه په اسانی سره خپله کړی او هم به صنعتی او تخنیکی تولیدات او پیداور چې تقریبا ټول ئې د لاتینی تورو د سیستم په بنسټ جوړ شوی دی په ارزانه بیه تر لاسه کړی.
پدی توګه به پښتو د نورو پر مخ تللو ژبو سره د سیالی جوګه شی. په لاتینی تورو د پښتو لیک اړول کوم سخت او پیچلی کارندی ځکه چې د ډیرو پښتو تورو لپاره سم لاتینی توری شته دی او سړی ئې ورته بی د ډیر سوچه څخه نیولی شی. یوازی د پښتو د دوه غږه او ځینو نورو تورو لپاره د لاتینی تورو په ټاکلو کې لږ څه سوچ پکار دی چې څو تنه پښتانه پوهان پری فکر او غور وکړی.
په لاتینی تورو د پښتو د لیک د اړولو د نظر ئې بنسټ د پښتو او پښتونخوا د پر مختیا او سوکالی په اوږد لید ولاړ دی چې دا وړدی مودی په ترخ کې د عمل جامی اغوستلی شی او دا پدی توګه چې لا اوس پښتانه پوهان او لیکوالان پدی لاره کې د قام او وطن خدمت ته ملا وتړی او ورو ورو د اوسنی لیک په خوا کې په لاتنی تورو د پښتو لیک رواج کړی او خپلی څه نا څه مقالی په پښتو کې په لاتینی تورو ولیکی تر څو چې د پښتو د لاتینی لیک سره وګړی اشنا شی او ددی لپاره شرائط برابر شی چې د اوسنی لیک ځای په بشپړه توګه د پښتو لاتینی لیک ونیسی.

نور نو د پښتو د پر مختګ ، د پښتنو د خپلواکی او د پښتونخوا د سوکالی او هوسائی په هیله خپل دا کتاب چې د ویری د نظریو پیمانی او درمل په باره کې په تیره بیا د طبیبانو ، ښوونکو او پوهیدونکو لپاره لیکل شویدی په ډیره مینه خپلو ننګیالو وطنوالو ته وړاندی کوم.

کبیر ستوری

# د ویری پیژندګلوی

## دویری کور کلي او رول

ویره د انسانانو په ژوند کې کره رول لوبوی او د ډیرو ساوالو ( روحی یا نفسی ) ناروغیو مور ده. دا چې په کومو ساوالو ناروغیو کې د ویری کور دی او ځای په ځای شویده د ساوالو ناروغیو پیژندګلوی ته اړتیا لری کومه چې یو داسی موضوع ده چې دلته پری رڼا نه شی اچول کیدلی او مونږ ئې د یوه ځانګړی او ګوښی کتاب لپاره خوندی ساتو خو دلته دومره وایو ساوالی ناروغی په عمومی توګه په دوه ډلو ویشل کیدلی شی.

۱ ) عصبی ناروغی (Neurose)
۲ ) عقلی او عصبی ناروغی (Psychose)

عصبی ناروغی (Neurose) د عقلی او عصبی ناروغیو (Psychose) لومړنی پړاو دی . دا ډول ناروغی کوم جسمانی علت نه لری او یوازی ساوال علتونه لری. خو دغه ناروغی د اوږدی مودی په ترڅ کې د انسان په وجود هم اغیزه کولی شی او د جسمانی نښونښانو پواسطه ځان برملا او څرګندوی لکه د لاسونو ، لیمو او ښکی او یا د وجود د کومی بلی عضوی بی اختیاره رپیدل.
عقلی او عصبی ناروغی (Psychose) د ساوالو علتونو سربیره جسمانی علتونه هم لری او په دوه ډوله دی دننی عقلی عصبی ناروغی (endog. Psychose) او بهرنی عقلی عصبی ناروغی (exog. Psychose) د دننی عقلی عصبی ناروغی (endog. Psychose) جسمانی علت اټکل کیږی خو دغه جسمانی علت متمرکز نه وی یانی ( یانی دا پته نه لګیږی چې په کوم ځای کې پروت دی .

پدی ډول ناروغیو کې د فکر او احساس د خنډ او ویجاړیدو ناروغی (Schizophrenie) او د مستی او سستی ناروغی (Manisch. Depression) راځی چې په کال کې دوه حالته لری چې یو ئې د مستی خوشحالی او سمسوری حالت دی او بل ئې د سستی مړاویتوب او غم حالت دی.
د بهرنی عقلی او عصبی ناروغی جسمانی علت مالوم وی چې په کوم ځای کې دی.ددغه پورتنیو ساوالو ناروغیو په ډیر شمیر کې ویره لږه یا زیات رول لوبوی.
ویره یوازی د ساوالو ناروغانو ربړه نده بلکه یو زیات شمیر نور کسان ورسره هم مخامخ دی. دلته دا پیښیدنه بنسټ جوړوی چې ویره د خطر د حالاتو سره اړیکی لری . هر څومره چې خطرونه زیاتیږی همدوغومره ویره زیاتیږی . لدی کبله په اقتصادی ، ټولنیزو ، پوځی او سیاسی چارو کې واکمن کسان د خپلو علائقو د پوره کولو او هدفونو د لاس ته راوړلو لپاره ربنتیانی او یا غیری ربنتیانی خطرونو ته چې د ویری د منځ ته راتګ سبب ګرزی ګوته نیسی او پدی ډول ویره پیدا کوی او وګړی خپل اطاعت او غاړی ایښودلو ته اړ او مجبوروی.
د ویری څخه د حاکمیت د یوی وسیلی په توګه د دینونو په منځ ته راتګ او وده کې هم کار اخستل کیږی چې د یوی خوا د دوزخ د عداب څخه انسانان ډاروی او د بلی خوا د جنت ژمنه ورکوی.
ددی ټولو ټکو څخه دا نتجیه لاس ته راځی چې ویره یوازی د یوه تن ربړه نده بلکه یوه ډله ایزه پیښه هم ده.
د ویری د ډله ایزتوب لپاره دا واقعیت هم خبری کوی چې ویره ساری خوی لری. په نورو تورو سره د یوه انسان څخه بل انسان ته تللی او ختلی شی. لدی کبله د ویریدونکو انسانانو سره تماس او راشه درشه په سړی کې ویره پیدا کوی او پدی ډول زیات انسانان د ویری په رنځ اخته کیدلی شی.
له بلی خوا څخه ډله ایزه ویره په کسانو ویشل کیږی. نو که شخصی ( ذاتی ) ویره د منځه لاړه هم شی نو د ډله ایزی ویری څخه سړی په ډډه کیدی اوبچیدی نه شی.لنډه دا چې ویره د ډله ایزی ربړی په توګه په پای کې یوه شخصی ( ذاتی ) ربړه ده.

# ويره د ځيړنې د موضوع په توګه

ويره يوازې د ساپوهنې (Psychologie) د څېړنې موضوع نده بلکه د ډېرو پوهنو پاملرنه ئې ځانته را اړولې ده او په هره پوهنه کې په خاص ډول تعبير او مانا لري. دا ځکه چې هره پوهنه په خپلو ځانګړو لارو او طريقو ويره څېړي. د مثال په توګه ازمېښتې ساپوهنه (Experimentalpsychologie ) ويره په مصنوعي حالتونو کې او د ژوو د کړو پېژندنه (Ethologie) د ژوو ويره د هغوی په طبعي چاپېريال کې د کتنې لاندې نيسي. همدغه شان طبي ساپوهنه (Psychiatrie) کوښښ کوي چې د ژورې ساپوهنې (Tiefenpsychologie) پر برخلاف چې د ويرې د علت او هڅې پوهيدل غواړي پېښنه ايزه وګوري.

## د ويرې تعريفونه :

دا چې هره پوهنه ويره د بل اړخ څخه څېړي نو لدې امله تعريفونه هم مختلف دي چې ډېر شمير ئې په ټاکلو نظريو او ښودنو پورې تړلي دي. ځنې ئې د ويرې د پخوانې لاتيني کليمې « انګوستيا » څخه چې د تنګسې مانا لري اخستل شوي دي. د مثال په توګه هوف مايسټر (Hoffmeister) ويره «د تنګسې احساس » ګڼي(١).

نور څېړونکې لکه واټسن (Watson) د ويرې لاندې « يو داسې بنسټيې احساس پوهيږي کوم چې د سړي د چاپېريال سره د تماس د پرېښودلو او يا د تيرې کوونکې عمل باعث ګرزي ( ٢ ).

همدغه شان فرايډ (Freud) « د خطر د حالاتو انځور ويره بولي » ( ٣ ). دا پکار ده چې هم وويل شي چې فرايډ(Freud) د خطر د حالاتو څخه پېژندل شوي ، راپه يادشوي او انتظار شوي» ( ۴ ) حالتونه د بې وسې پوهيږي.

ينسن (Jensen) د زده کړې د نظرې له اړخه « په ناپيېلې پارونې پورې تړل شوي احساستې جواب ته» ( ۵ ) ويره وائې.

ددې لپاره چې د ينسن (Jensen) د تعريف په مفهوم او مطلب ښه پوه شو نو غواړو چې دده د تعريف په ډډه کې پرتې استلاګانې د پاولوف (Pawlow) د سپي د ازمېښت په مثال باندې څرګندې کړو.

روسی پوهان پاولوف (Pawlow) به چې کله خپل سپی ته ډوډۍ ورکوله نو لږ څه مخکې به ئې ځراغ ورته ولګاوه او بیا به ئې سمدستی ډوډۍ ور واچوله. نو کله چې دغه کار څو ځله سرته ورساوه نو بیا که ډوډۍ هم نه وه نو د ځراغ د لګیدو سره سم به سپی خوله ځپوله او لاړې به ئې راتلی.
پدی ازمینښت کې ډوډۍ ناپییلی پارونی ده او خپله په ډوډۍ باندې د سپی خوله ځپول او لاړې څڅیدل ناپییلی ځواب دی. ځراغ تړلی پارونی دی او په ځراغ خوله ځپول لاړې څڅیدل تړلی ځواب دی د پاولوف (Pawlow) د سپی دا ازمینښت نن ورځ ډیر مشهور دی او د زده کړی د نظری بنسټ او تاداو جوړوی خو مونږ نه غواړو چې زیاته رڼا پری واچوو ځکه چې زمونږ مطلب د ینسن (Jensen) د ویری په تعریف کې د پرتو استلا ګانو څرګندونه وه.سربیره پردی د ویری نور ډیر تعریفونه هم شته دی خو دلته بایده دې چې یوازی تعریفونه راټول نه شی ځکه چې دغه پورتنی مثالونه ددی دپاره بسیا کوی چې دویری کوم عمومی منل شوی تعریف نه شته دی.

## د ویری او ډار استلاګانی

د ویری او ډار استلاګانی د عوامو په ژبه کې یوه مانا لری خو په پوهنیزه ژبه کې ځنی پوهان ددغه دواړو استلاګانو توپیرته ګوته نیسی.
کیرککګارډ (Kierkegaard) د لومړی ځل لپاره د ویری (Angst) او ډار (Furcht) په منځ کې توپیر وکړ چې ویره نامالومه ده یانی سړی نه پوهیږی چې د چا نه یا څه شی نه ویریږی او ډار مالوم دی یانی سړی خبروی چې د چا نه او یا څه ی نه ویریږی.
د کیرککګارډ (Kierkegaard) څخه وروسته یو شمیر پوهان لکه یسپر (Jaspers) او هایدیګر (Heidegger) په دغه توپیر ټینګ ودریده او ځنی نور ئې په مختلفو دلیلونو سره ردوی.
د مثال په توګه ګونتر اندرس (Günther Anders) وائی چې « هغه شیان چې په عمومی توګه تری انسانان ډاریږی ډیر پیچلی او مجهول دی چې هر سړی پری پوهیدلی نه شی لکه د اتومی جګړی نتیجه »(۶ ).

د ګونتر اندرس (Günther Anders) ددی خبری څخه دا جوتیږی چې هغه شیان چې وګړی تری ډاریږی د هر تن د پیژندنی او پوهیدو د توان څخه بهروتلی دی اولدی امله ئې خپل مالوم خوی د لاسه ورکړی دی پدی توګه د ویری او ډار په منځ کې توپیر د منځه ځی او یوه مانا ورکوی.
همدغسی شولټې (Schulte) د ویری او ډار په منځ کې توپیر نه منی او د ورځنی ژوند تل استعمال کیدونکی استلا د « چا نه ویریږی » د دلیل په توګه راوی او پدی ډول ویره د شی یا چا پوری تړی.
د ویری او ډار په خوا کې پکار ده چې د وارخطائی استلا هیره نه شی. کله چې سړی د یوه خطر لپاره چمتو نه وی او ورسره مخامخ شی نو وار خطا کیږی. دا لا پوره رونبانه نده چې دغسی ناڅاپی خطرو نه رښتیا د ویری علت دی او که ویره مخکی له مخکی د هوښ په تل ( تحت شعور ) کې پرته وه او دغو خطرونو هوښ ( شعور ) ته راوستله.
د لیکوالانو د نه یوالی او ددی پوری د تړلو ستونځو له کبله بایده دی چې ویره، ډار، او وارخطائی په یوه مانا سره استمال شی که څه هم فرایډ (Freud) شکایت کوی او وائی « چې وارخطائی ډار او ویره په ناحقه سره په یوه مانا سره استمالیږی. د خطر سره د دوی اړیکی یو د بل سره توپیر لری. ویره یو داسی حالت دی چې سړی د خطر انتظار لری او تیاری ئې ورته نیولی وی که څه هم دا خطر نا مالوم وی. ډار یو مالوم شی پوری تړلی دی د کوم نه چې سړی ډاریږی او وارخطا ئی یو داسی حالت دی په کوم کې چې سړی خطر ته انتظار او چمتووالی نلری« (۷ ).
خو سره ددی چې ویره، ډار او وارخطائی د خطر سره مختلف اړیکی لری خو تل د خپل ډډ له پلوه یو بل ته ورته دي چې لدی کبله ئې مونږ پدی کتاب کې په یوه مانا سره استمالوو.

# د ويرې ډولونه

ويره مختلف ډولونه لري خو په عمومي توګه سره د روغې (عادي) او ناروغې (غيرې عادي) ويرې او پيپيلي او نا پيپيلي* ويرې توپير ته ارزښت ورکول کيږي.

---

* پيپيلي ويرې ته په مسلکي ژبه کې پوبي (Phobie) وائي چې يوه يوناني کلمه ده

**پيپيلي ويره (Phobie):** هغه ويره ده چې يو شي پورې پيپيلي او تړلې وي او ددغه شي سره رښتياني او يا غيرې رښتياني اړيکې لري.

**نا پيپيلي ويره (Angst):** هغه ويره ده چې بې د کوم څرګند شي څخه تش يو ذهني احساس وي.

**پيپيلي ويره (Phobie):** د اروپائي پوهانو په عقيده په درې ډلو ويشل کيږي.

۱) پيپيلي ويره چې د خطر شي ئې روغو کسانو ته هم خطرناک ښکاري لکه د زهر لرونکو مارانو څخه ويره.

۲) پيپيلي ويره چې د خطر سره اړيکې لري خو ددغه خطر سره روغ وګړي عادت وي لکه د اورګاړي يا د الوتکې د سورلۍ څخه ويره.

۳) پيپيلي ويره چې اروپايانو ته نا اشنا ښکاري لکه د شړو لارو د تيريدلو او يا د «بې تاوانه» ژوو لکه پيشو ، مږو او داسې نورو څخه ويره.

دا دوه وروستنۍ ډلې ويرې د اروپائي پوهانو په عقيده غيرې رښتياني خوې لرې او لدې کبله ئې غير عادي او ناروغه بولي خو زمونږ په نظريه څنې ژوي په يوه ټولنه کې پاک او بې تاوانه او په بله ټولنه کې بيا دغه ناولي او مضر ګڼل کيږي د مثال په توګه مږه زمونږ په ټولنه کې ناولي او مضره ده چې ډير خلک ئې به لاس کې نه لوبوي او کرکه ترې کوي چې د ويرې يوه خاصه څهره او بڼه ده.

لدی کبله د یوه ټاکلی ژوی شخه ویره په یوه ټولنه کې عادی او په بله ټولنه کې بیا غیری عادی او ناروغه بڼه لری.

همدغسی د شړو لارو شخه د تیریدلو ویره (Agoraphobie) کیدای شی چې ربنتیانی یا غیری ربنتیانی خوی ولری د مثال په توګه زمونږ په هیواد کې ځنی کسان د پتنیو په بد بختیو اخته دی او دښمنان ئی شړی لاری دوی ته څاری. کله کله ځنی خلک شړی لاری د برمتی لپاره نیسی او کله په شړو لارو کې شو کوونکی غله ناست وی. نو که یوه شړه لار ربنتیا دښمن سړی ته نیولی وی او یا پکې ربنتیا شو کوونکی غله یا برمته کوونکی ناست وی او یا ئې زیات احتمال وی نو پدی حالت کې ویره ربنتیانی خوی لری او سړی ورته ناروغه نه شی ویلی.

خو کله چې چاپه کوچنیوالی کې د شړولارو ، د بلا ، پیریانو او شوکوونکو غلو ربنتیانی او یا غیری ربنتیانی کیسی اوریدلی وی او بیا وروسته په داسی شړ ځای یا لاره ورشی چې اوریدلی خطر پکې هیڅ نه وی او سره ددی ئې غونی ځیږ شی چې د ویری نښه ده نو دا ویره ناروغ هډ لری ،ځکه چې د کیسی د اوریدلو په نتیجه کې منځ ته راغلی او د هوښ په تل ( تحت شعور ) کې دیره وه چې د شړی لاری د لیدلو پواسطه بیداره هوښ ( شعور ) ته راغله. یانی ویره مخکې د مخکې څخه د هوښ په تل کې موجوده وه او د شړی لاری د لیدلو له کبله یوازی فعاله او رابنکاره شوه.

## د ویری بدرګی:

د فرایډ ( Freud) او لابهارد (Labhardt) په عقیده د ویری سره یوه یا زیاتی طبی نښی نښانی لکه د زړه درزا ( ټپا ) ساوتیګا کیدل ، خوله راتلل، لړزیدل، د کسی غتیدل، سرګرزیدل ، غونی ځیږیدل ، لوړه او داسی نور ملګری او بدرګه دی .( ۸)

خو د فرولښ (Frölich) په نظر به ددغه پورتنیو طبی نښونښانو لکه د زړه درزا او ساوتیګا کیدل نه یوازی د ویری بلکه د تیری او قار سره هم ملګری دې ( ۹ ) .لدی امله سړی نه شی ویلی چې دغه یوازی د ویری نښی نښانی دی.

دی ربړی د فونکن شټاین(Funkenstein) ،لیونځون (Lewinsohn) او شاختر (Schachter) پاملرنه ځانته راواړوله او د قار او ویری د طبی نښنو نښانو پوښتنه یې د خپلو ازمایښتی څیړونو موضوع وګرزوله. نوموړو څیړوونکو د ازمایښت تن د برېښنا (بجلی) د ګوزار پواسطه ویراوه او د رټلو پواسطه به ئې په قار او د ټاکلو ماشینو نو پواسطه ئې د ازمایښت د تن طبی نښې نښانی چې د قار او یا د ویری په وخت کې پیدا کیدی اندازه کولی.
دوی د خپلودی ازمایښتونو په ترخ کې دی نتیجی ته ورسیدل چې د زړه د حجم توان او ټپا او همغسی سا راښکدل په ویره کې د قار په پرتله زیات او غښتلی دی. (۱۰)
ددې ازمایښتونو د نتیجو څخه څرګندیږی چې غښتلی طبی نښې نښانی په ویری او کمزوری په قار د لالت کوی او دا هم راپه ګوته کوی چې د ویری او ځنو طبی نښو نښانو تر منځ دوه اړخیزه اړیکی شته دی.

# ویره میراثی او که زده شوی احساس دی

دا پوښتنه چې ویره زده شوی او که میراثی ده د ډیرو پوهانو د علاقی وړ ګرزیدلی ده چې ځنی ئې ویره میراثی او ځنی ئې زده شوی احساس ګڼی.

**ویره میراثی احساس دی :** یو د هغه پوهانو څخه چې ویره د انسان د تنی میراثی خوی او خاصیت ګڼی واټسن (Watson) دی.
واټسن (Watson) د ویری د وراثت لپاره داسی دلیل راوړی ،کله چې د نوی ځیږیدلی ماشوم څخه چې خوبولی وی سړی ناڅاپه څادر لیری کړی نو ټوپ وهی ځکه چې ویریږی.
همدغسی د هل (Hall) په ازمایښتونو کې فرولښ (Frölich) د ویری د میراثیتوب د هل (Hall) ازمایښت پدی ګڼنه ولاړ دی چې د ویری له پلوه د یو تن او بل تن په منځ کې توپیرونه شته دی او دا توپیرونه میراثی دی.

د یو توپیر د میراثیتوب څخه سړی هغه وخت خبری کولی شی کله چی د ځیړنی او ازمایښت په وخت کې د چاپیریال شرائط ثابت پاتی شی او که نه نو بیا سړی نه پوهیږی چې دغه توپیرونه د ازمایښت او ځیړنی په وخت لاس ته راغلی دی، د چم ګاونډ او چاپیریال محصول دی او که میراثی دی.

لدی کبله هل (Hall) د چاپیریال د یو شانته شرطونو د لاندی موږی څوکوله (نسلونه ) و ساتلی. د کودو کودو په کول کې په پوره ډاډ سره اټکل کیدلای شو چې که اوس د موږو په منځ کې د ویری له اړخه کوم توپیر پیدا شی نو دا توپیر به میراثی وی ځکه چې موږی د چاپیریال د یو شانته شرطونو د لاندی پیدا او لوی شوی وی.

هل (Hall) د ویری د اندازه کولو لپاره د یوی ګردی پنجری څخه چې موږی تری تښتیدلی او وتلی نه شوی کار واخیست. ددغه پنجری تلی د یوی داسی تختی څخه چې بریښنا ( بجلی ) پکې تیره شوی وه جوړ شوی و.

هل (Hall) په دغه پنجره کې موږی وراچولی او د بریښنا د ګوزار پو اسطه ئې ویرولی.

د موږو غولو چې د ویری نښانه ده په ټاکلی وخت کې د ویری اندازه ښودله. په نورو تورو سره هغه موږی چې د بریښنا د ګوزارله کبله ئې په ټاکلی وخت کې ډیر غول کول ډیری به ویریدی او چې لږ غول به ئې کول لږی به ویریدی.

هل (Hall) د خپل دی ازمایښت په لړ کې د موږو په منځ کې توپیرونه پیدا کړه کوم چې دده د ګڼنی لپاره چې ویره میراثی ده خبری کوی( ۱۱ ) .

دا چې په کومه اندازه سره سړی د ژوو د ازمایښتونو نتیجی د انسانانو لپاره هم د اعتبار وړګڼلی شی د لیکوالانو په منځ کې پری د نظریو اختلاف دی خو دومره سړی ویلی شی چې د ژوو او انسانانو په منځ کې ځنی ورته والی ( مشابهتونو ) شته دی چې لدی امله د ژوو د ازمایښتونو د نتیجو څخه د انسانانو لپاره هم څه نا څه کار اخستل کیدلی شی خو په بشپړه توګه د انسانانو لپاره اعتبار نه شی لرلی.

**ویره زده شوی احساس دی :** لکه څنګه چې د هل (Hall) ازمیښت د ویری د میراثیتوب په اړخ باندې رڼا اچوی همدغسی یو شمیر نور ازمایښتونه شته دی چې د ویری د زده کړی لپاره خبری کوی خو مخکې لدی څخه چې پدی باره کې وګړیږو پکار ده چې درا یادیدو څنو قانونو ته (Assoziationgesetze) چې د زده کړی د نظری (تیوری ) بنسټ او تاداو جوړوی لنډ نظر وراچوو.

**درایادیدو قانونونه :** درایادیدو د قانونو لومړنی بنسټ ارستو (Aristoteles) کیښود چې وروسته ئې پراختیا ومونده.

نن ورځ د رایادیدو قانونونه د زده کړی د نظری افبا ګڼل کیږی چې مهم ئې دا دی.

۱ ) د ځای او د وخت د پیوستون قانون: که چیرته سړی دوه یا زیات شیان په یوه وخت او یا یوه ځای کې ووینی نو کله چې ددغه شیانو څخه یو ئې رایاد شی نو بل ئې هم رایادیږی.

۲ ) د ورته والی قانون: که چیرته دوه شیان یو بل ته ورته وی د یوه رایادیدل ډیر وخت د بل د رایادیدو سبب ګرزی دا پکار ده چې هم هیره نه شی چې د دوه شیانود ورته والی په باره کې د لیکوالانو نی۔رئې متخلقی دی د مثال په تو ګه هوفدنګ (Höffding) هغه وخت دوه شیان یو بل ته ورته کنی چې ځنی برخی ئې ګډی وی ګولډ مایر (Goldmeir) بیا د کره برخو شریکوالی ته اشاره کوی.

ځنی نور پوهانو لکه میرځ (Merz) هغه وخت دوه شیان یو بل ته ورته بولی چې د یوه دننی جوړښت د هغه بل په شان وی.

۳ ) د سمت او برخی قانون: کله چې د یوه سمت شی یوه برخه رایاده شی نو دغه برخه ددی سبب ګرځی چې سمت او ټول شی رایاد شی.

۴ ) د تضاد قانون: کله چې د تضاد یو اړخ په رایاد شی نو ډیر وخت ئې بل اړخ هم رایادیږی.

دلته پکار ده چې دا هم هېره نه شی چې تضاد د منطق او فلسفی موضوع او د ډیالکتیکی ماده ولی ( ماټریالیزم ) بنسټی قانون ګڼل کیږی او ډیر ډولونه لری لری چې په عمومی توګه په دوه ډوله ویشل کیږی بنسټی ( اصلی ) او غیری بنسټی ( فرعی ).

د تضاد د تعریف په هکله د فیلوسوفانو نظر ئې مختلفی دی د مارکسوالو فیلوسوفانو په نظریه یوازی د موړ او غریب په منځ کې اقتصادی توپیر بنستیی تضاد دی چې نه پخلا کیدونکی خوی لری او نور ټول توپیرونه غیری بنستیی گڼی. غیری مارکسوال فیلوسوفان بیا هرتوپیر چې د دوه شیانو په منځ کې وی تضاد بولی او هغه توپیرونه چې ډیر لوی او کره رول په دغه شیانو کې لوبوی بنستیی تضادونه گڼی.

د رایادیدو د پورتنیو قانونو څخه څرګندیږی چې کله چې یو شی د بل شی د رایادیدو سبب ګرځی نو ددغه دواړو شیانو په منځ کې خامخا څه نښتون وی

د ویری او د درناکو او خطرناکو حالتونو یا شیانو تر منځ هم د زده کړی د نظرئې له پلوه نښتون شته دی.

دا چې د ویری او د خطر د حالاتو تر منځ څنګه نښتون منځ ته راتلای شی د میلر (Miller) ازمیښت (Experiment) پری رڼا اچوی.

**د میلر (Miller) ازمیښت** : ددی ازمیښت مواد یوه پنجره وه چې تلی ئې نیمائې سپین او نیمائې تور و. سپین تلی د تورتلی څخه د یوی تمبی یا دروازی پواسطه بیل شوی و خو دا تمبه د یوه سپک څرخ او یوه سپک اړم پواسطه بیرته کیدلی شوه. سربیره پردی په سپین تلی کې بریښنا (بجلی) تیره شوی وه.

میلر (Miller) د خپل ازمیښت په لومړی پړاو کې د داسی مږو څخه کار واخیست چې د پنجری په سپین او تور تلی کې به یو شانته په خوښی کښیناستلی.

د ازمیښت په دوهم پړاو کې په داسی حال کې چې د بنجری د سپین او تور تلی تر منځ تمبه (دروازه) برسیره وه د پنجری په سپین تلی کې لس ځله پرله پسی کښینول شوی او هر ځل به ئې د بریښنا گوزار ورکاوه. مږی به هر ځل تور تلی ته تښتیدلی.

د ازمیښت په دریم پړاو کې بیا مږو ته د بریښنا (بجلی) گوزار نه ورکول کیده او یوازی د بنجری په سپین تلی کې کښینول کیدلی خو دوئ به سمدستی د پنجری تور تلی ته وتښتیدلی.

د ازمیښت په څلورم پړاو کې بیا د پنجرې د سپین او تور تلی په منځ کې تمبه وتړل شوه او دیوه څرخ پواسطه چې پخوا مو وویل بیرته کیدلی شوه خو دا پیره چې هماغه مږی د پنجری په سپین تلی کې کښینول شوی نو بی لدی څخه چې د بریښنا ګوزار وخوری په میتازو ئې پیل وکړ کومه چې د ویری نښه ده. خو په ناڅاپی توګه ئې وکړای شو چې د څرخ د تاوولو د لاری د پنجری د توراو سپین تلی تر منځ تمبه (دروازه) برسیره کړی او تور تلی ته وتښتی.

بیا وروسته دغه مږی د پنجری د تور تلی څخه څو ځله راوښکدل شوی او په سپین تلی کې څو واره کښینول شوی او هره پیره چی به په سپین تلی کی کښینول شوی سمدستی به ئې څرخ وچورلولو او تور تلی ته به لاړی.

د ازمیښت په پنځم پړاو کې د پنجری د تورتلی او سپین تلی په منځ کې تمبه د څرغ په چورلولو نه برسیره کیده بلکه د یوه سپک اړم د ښکته کولو پواسطه.

خو کله چې دا پیره هماغه مږی د پنجری په سپین تلی کې کښینول شوی نو د څرخ په چورلولو بوختی شوی او هر څه هلی ځلی او کوښښ چې ئې وکړ د سپین او تورتلی تر منځ تمبه نه برسیره کیده. نو بیا ئې د پخوا په شان په میتیازو پیل وکړ او غلی ناستی وی او بیا ورسته ئې وکولای شو چې د اړم د ښکته کولو د لاری تمبه برسیره کړی او تورتلی ته وتښتی (۱۲).

میلر (Miller) پخپل دی ازمیښت سره وکولای شو چې دا په ثبوت ورسوی چې ویره د رایادیدو د قانونو په بنسټ منځ ته راځی. په نورو تورو سره دا ددی مانا لری چې ویره یو زده شوی احساس دی.

ویره د هڅی (Trieb) بڼه لری او د خطر د شیانو او حالاتو نه د بچیدو په غرض د تند او ګړندی عمل سبب ګرزی.

**لنډيز** : که چیرته سړی د هل (Hall)ازمیښت ته انتقادی نظر واچوی نو وبه وینی چې ده په یوه ټاکلی وخت کې د مږو د غولو اندازه د ویری د پیمانی په توګه استمالوله کله چې به مږو په یوه ټاکلی وخت کې ډیر غول وکړل نو دده دلپاره ئې د ډیری ویری مانا لرله او چې لږ غول به ئې وکړه نو دده لپاره ئې د لږی ویری مانا لرله. دلته پکار ده چې وویل شی چې دا خبره لا پوره په ډاګه نده چې غښتلی طبی بدرګی د ډیری ویری مانا لری او یوازی د ویری نښه ده.

که چیری یوازی د ویری نښه وی نو بیا مونږ ته د ویری ډیروالی او کموالی راپه ګوته کولی او ښودلی نه شی. نو لدی کبله سړی ویلی شی چې د هل (Hall) ازمیښت په یوه مجهوله ګڼنه ولاړ دی چې په نتیجه ئې سړی پوره تکیه کولی نه شی.
خو برخلاف ددی د میلر (Miller) ازمیښت دا په جوته سره وښودله چې هغه مږی چې د پنجری په سپین او توری تلی کې یو شانته په خوښی کښیناستلی کله چې ئې تلی کې هره پیره د بریښنا ګوزار خوړ نو دائې زده کړه چې په سپین تلی کې د بریښنا د ګوزار خطر دی. نو کله چې به په سیپن تلی کې کښینول شوی نو د بریښنا د ګوزار هیله به ئې لرله چې د بریښنا ګوزار به وخوری نو د سپین څخه به تښتیدلی که د بریښنا ګوزار به و او که نه او که د تیښتی لار به ئې بنده وه نو بیا به ئې میتیازی کولی.
تیښته او میتیازی دواړه د ویری نښی دی چې دا خبره په ثبوت رسوی چې ویره د خطر په حالاتو احساساتی ځواب دی ،کوم چې د ویری د زده کړی لپاره خبری کوی. خو دا ددی مانا نلری چې موروثی ویره نه شته دی او هره ویره زده شوی ده.
لنډه دا چې موروثی ویره هم شته خو ویره زده کیدلی هم شی چې دا مونږ ته دا راپه ګوته کوی چې ویره انتقالی خوی م لری. لدی امله د ډاریدونکو کسانو سره تماس سړی د ویری په رنځ اخته کولی شی.

# د ویری پیداښت او نظرئې

## د ځیږموند فراید د ویری نظرئې

ددی لپاره چې د فرایډ (Freud) د ویری په نظریه ښه پوه شونو د هغه د هڅو (Triebe) او سایز ماشین (Psychische Apparat) ښودنی ته ځغلنده کتنه پکار ده.

**د فرایډ د هڅو ګڼنه ( فرضیه ) :** فرایډ (Freud) په لومړی سر کې غوښتل چې هڅی (Triebe) په دوو ډلو وویشی.

۱ ) د مینی ( جنسی ) هڅه چې د بهرو خواته زور کوی.

۲ ) ځان خوښوونکی ( خود پرسته ) هڅه چې د ځان د ژغورنی دنده پغاره لری.خو ورسته بیا ورته د ژوری څیړنی په لړ کې جوته شوه چې ځان خوښوونکی هڅه د مینی د هڅی سره هیڅ توپیر نلری.

ځان خوښوونکی هڅه د مینی د هڅی یوه بڼه ده.

لدی کبله فرایډ (Freud) د ځان خوښوونکی او د مینی د هڅو نظریه پریښودله او ددی پر ځای ئې د دوه متضادو میراثی هڅو چې مینه او تیری دی ګڼنه ( فرضیه ) وکړه.

د هیرنګ (Heringe) نظریه دد ه دغه ګڼنه تا ئیدوی چې وائی په ژوندی ماده کې دوه متضاده کښښونه شته دی چې یو ئې جوړونکی او بل ئې ورانوونکی دی.

فرایډ ( Freud ) پخپله داسی دلیل راوړی چې د ژوند منځ ته راتګ د ژوند د دوام او مرګ ته د نژدیوالی مانا لری. مرګ د ژوند هدف دی او ژوند خپله د دوی په منځ کې روغه جوړه ده.

**سایز جوړښت :** فرایډ (Freud) سایز جوړښت د یوه ماشین په شان تصور کوی چې د ډیرو پرزو څخه جوړ شوی وی او یو ټاکلی ځای نیسی.

دده په عقیده ساوالی ( روحی ) پیښی یوازی په هوښ ( شعور ) کې پرتی ندی ځکه چې په هوښ کې پرتو پیښو د ځرګندونی او روښانولو لپاره نور مواد پکار دی کوم چې د هوښ څخه بهر دی.
سربیره پردی تجزوی ازمیښتونه ښائی چې یوه برخه د ساوالو ( نفسی ) پیښو داسی پټ خوی لری چې په هوښ کې د ښکاره پرتو پیښو د خوی سره سمون نه خوری لکه د ځان پخپله مرګ.
فرایډ (Freud) د هوښ د لاندی د ساوالو پیښو یو خاصیت ( څرنګوالی یا کیفیت ) پوهیږی. دا خبره سړی په یوه مثال سره جوتولی شی.
که چیرته مونږ یو ساایز شی لکه یو خیال یا د چا نوم په یاد کې ونیسو نو دغه خیال یا نوم تل زمونږ په یاد کې نه پاتی کیږی. وروسته د یو څه وخت څخه زمونږد یاده وزی او هیریږی . کیدای شی چې دغه خیال یا نوم د ځینو شرطونو د لاندی بیرته زمونږ یاد شی نو دلته دا پوښتنه پیداکیږی چې دا خیال یا نوم پدی منځ کې چیرته و او څه پری شوی و او څه بڼه ئې لرله.
ددی پوښتنی په ځواب کې ویلی شو چې مونږ نه پوهیږو چې دا خیال یا نوم پدی منځ کې څه شوی و او څرنګه بڼه ئې لرله خو دومره ویلی شو چې زمونږ د یاده وتلی و او چیرته پټ و.
په مسلکی ژبه کې ویلی شو چې دغه خیال یا نوم زمونږ د هوښ ( شعور ) څخه وتلی و او د هوښ بهر ( غیر شعور کی ) پروت و.
ددی واقعیت له مخی فرایډ (Freud) ساایزی پیښی او شیان په دوو ډلو د هوښ دننه ( شعور ) او د هوښ بهر ( غیری شعور ) وویشلی.
ټولی هغه ساایزی پیښی او شیان چې سمدستی مونږ ته په یاد دی د هوښ دننه او کومی چې موسمدستی په یاد ندی د هوښ بهر وګڼلی.
خو بیا وروسته ده د خپلو څیړنو په لړ کی د هوښ بهر دوه ډوله ساوالی پیښی او شیان پیدا کړه . یو ډول هغه ساوالی پیښی او شیان و چې د هوښ په درشل کې ولاړ و او ډیر وړاندی تللی نه و او سړی په لږه پاملرنه سره هوښ ته راوستلی شوی لدی کبله دغه پیښی او شیان د هوښ د درشل (vorbewußt) ساایزی پیښی شیان وبللی.

او خپله د هوښ بهر (unbewußt) استلا ئې د هغه ساایزو پيښنو او شيانو لپاره وساتله چې د هوښ بهر دومره ليرى تللى وو چې هوښ ته بيرته راتګ ئې ډير په سختى سره امکان لرلو پدى ډول سره ساوالى پيښى او شيان په درى لاندى ډولونو وويشلى.

١ ) د هوښ (bewußt) ساوالى پيښى او شيان.

٢ ) د هوښ د درشل (vorbewußt) ساوالى پيښى او شيان.

٣ ) د هوښ بهر (unbewußt) ساوالى پيښى او شيان.

ددى مالوتو له مخى فرايډ (Freud) د هوښ دننه او د هوښ د درشل ساوالى پيښى د يوه خيل او د هوښ بهر ساايزى پيښى د بل خپل وګڼلى او دا ځکه چې د هوښ د درشل پيښى هر وخت د هوښ دننه ته راتلاى شى کله چې ورته لږه پاملرنه او غږ و شى خو د هوښ بهر ساايزى پيښى په لږه پاملرنه سره نه بلکى د ټاکلو شرطونو د پوره کولو څخه وروسته په ډيره سختى سره راتلى شى خو دا هم نيغ په نيغه نه، بلکى مجبورى دى چې لومړى د هوښ درشل ته او بيا د هوښ دننه يا هوښ ته راشى ( ١٣ ).

**ساايز لړونه :** فرايډ (Freud) سربيره پردى درى ډوله ساوالو پيښنو او شيانو درى ډوله نور ساايز لړونه مونده کړه چې د پورتنيو ساايزو پيښنو او شيانو سره ئې د جوړښت له پلوه توپير لرلو او په خپلو منځو کې اړيکى لرلى.

لومړنى يا مشر ددغه لړونو فرايډ (Freud) ٠دا٠ (Es) په کوم کې چې د ځيږيدو په وخت کې ټولى ميراثى ساوالى پيښى راټولى شوى وى چې بيا وروسته په شيږمه يا اتمه مياشت کې د چاپيريال د اغيزى د لاندى د ٠دا٠ يوه برخه زياته وده کوى او په پرله پسى توګه د ٠دا٠ څخه رابيليږى او ځانته بڼه نيسى. د ٠دا٠ دې رابيلى شوى برخى ته فرايډ (Freud) ٠زه٠ (Ich) وويل.

٠زه٠ په عضلو حسى اعصابو په ياد راوړلو او په ادراک حاکميت لرى چې پدى توګه سره د بهرنى چاپيريال په هکله مالومات راټولوى او په پاى کې ددى توان پيدا کوى چې ٠دا٠ او بهرنى چاپيريال شيان او اغيزى سره توپير کړى او د ٠دا٠ او بهرنى چاپيريال په منځ کې د يوه منځګړى په توګه دنده تر سره کوى.

خو څنګه چې ماشوم په کوچنيوالی کې د خپل مور او پلار او ښوونکو د لاس لاندی وی نو دده په ‹ زه › کې يو بل شی يا لږ چې مور او پلار او ښوونکود هيلو نمايندګی کوی وده کوی. دغه شی يا لږ فرايډ ( Freud ) ‹ اخلاقی زه› (Überich) يا ‹ وجدان› ونوماوه.

‹ اخلاقی زه› يا وجدان د ځيرېدو څخه پنځه يا شپږ کاله وروسته کله چې زه د اوديپوس په احساس (Odipuskomplex) يا دوه اړخيزه احساس په حل بريالی شوی وی په وده پيل کوی

**د اوديپوس احساس (Odipuskomplex)**: ددی لپاره چې د اوديپوس يا دوه اړخيزه احساس استلا ښه روښانه شی نو دی کيسی ته لومړی پام را اړول پکار دی. وائی چې په لرغونی يونان کې يو باچا ته طالع ګرو (نجوميانو ) وويل چې ستا به يو ځوی وشی او نوم به ئې اوديپوس (Odipus) وی. که چيرته هغه مړنکړی نو تا به مړ کړی او ښځه به دی په نکاح کړی . ويل کيږی چې ددغه باچا ځوی وشو خوڅنګه چې اولاد خوږ دی مړ ئې نکړ په وړوکوالی کې يې چيرته په بيديا کې پريښود. دی کوم چا مونده کړ او نوم ئې پری اود يپوس (Odipus) کيښود. کله چې دغه هلک لوی شو نو د يوه بل باچا په لښکر کې چې دده د پلار سره ئې ورانه وه افسر شو او په نا خبری کې يې خپل پلار مړ کړ اوخپله مور ئې په نکاح کړه . خو کله چې دی خبر شو چې خپل پلار ئې مړ کړی او خپله مور ئې په نکاح کړی ده نو ځان ئې ړوند کړ.څرنګه چې دغه کيسه د فرايډ (Freud) په وخت کې په يورپ کې ډيره مشهوره وه نو هغه هم پخپلو څيړنو کې د اوديپوس (Odipus) نوم ته ځای ورکړ او پورتنی دوه اړخيزه احساس ئې د اودپوس احساس (**Odipuskomplex**)ونوماوه. مونږ هم دغه استلا راونيوله.

د اويپوس احساس د مور د سينی د خوړو شيدو څخه سرچينه اخلی . دا چې د کوچنی ماشوم د لوږی اړتيا مور پخپلو خوږو شيدو سره پوره کوی نو دا ماشوم هم د خپلی مور سره مينه وی او ورته ګرانه وی. په نورو تورو سره د انسان لومړنی مينه د مور سره مينه ده.

د مور سره مينه د فرايډ (Freud) په ژبه د پلار سره تقليد او ورته والی مانا لری.

د مور سره مینه یانی د پلار تقلید تر هغې پر وړاندې ځی تر څو چې ماشوم ځوی پدی پوه شی چې دا د پلار سره سیالی ده ځکه چې پلار هم دده د مور یانی خپلی میرمنی سره مینه لری او ورته ګرانه وی.

ددی ګړی څخه وروسته د ځوی د ریزد پلار په مقابل کې دوه اړخیز وی. د یوی خوا ئی پلار پدی بدی شی چې د مور په مینه کې دده رقیب دی او دده نه مور اخلی. لدی کبله دی د یوی خوا غواړی یا ددی هیله لری چې پلار د منځه یوسی او دده ځای د مور سره ونیسی او له بلی خوا غواړی چې پلار ته ګران وی. د تقلید د لاندی سرې په عمومی ډول « یو داسی عمل پوهیږی په کوم کې چې سړی په یوه یا ډیرو کړو وړو سلوکونو یا فکرو کې د څه شی په ډول یا د چا په شان شی» ( ۱۴ ).

د تقلید پوله یوازی په وړوکتوب تنګه پاتی نده بلکه په ټول عمر کې سړی تقلید کوی. ډیر وخت سړی د هغه شیانو یا خلکو تقلید کوی کوم چې سړی ته په زړه پوری وی.

کله نا کله سړی د تیری کوونکی او دښمن تقلید هم کوی « پدی حالت کې سړی کم نا کمه پدی خوښ وی چې په خیال او تصور کې د دښمن په زور او شهرت کې چې دده په فکر ئې لری برخه واخلی» ( ۱۵ ).

او یا پدی حالت کې تقلید د دښمن څخه د ډار له کبله وی.

د ماشومی لور د اودیپوس احساس یا دوه اړخیزه احساس د ماشوم ځوی د اودیپوس احساس ته ورته دی. خو ماشومه لور لومړی غواړی چې د مور سره د پلار رول ولوبوی خو ژر ورته دا پته لګیږی چې هلک ندی او د پلار په شان نه شی کیدلی نو ورته د نیمګړتیا او کمزورۍ احساس پیدا کیږی او په ډیره غصه او قار سره پدی پیل کوی چې د مور په شان شی او په ډیر زړه نا زړه غواړی چې پلار ته ګرانه شی. ددی لپاره چې ماشوم ځوی د اودیپوس احساس په سمه توګه حل کړی نو پکار ده چې د پلار تقلید مخ په وړاندی بوزی او د مور د مینی په ځای په نورو نجونو او ښځو خپل تفاق مات او د مینی تنده سړه کړی.

ماشومی لور ته پکار دی چې د مور تقلید مخ په وړاندی بوزی او د پلار په ځای د نورو نرانو سره مینه پیدا کړی. لنډه دا چې د پلار تقلید ځوی ته د نرتوب او د مورتقلید لور ته د ښځیوتوب خوی وربخی. دا ډول تقلید عادی او برخلاف ئې غیری عادی دی.

کله چې یو ماشوم ځوی غیری عادی تقلید کړی وی یانی د پلار د تقلید په ځای د مور تقلید کړی وی نو بیا احتمال ئې د ښځونی توب او حتی د مفعولیت شته دی. نو لدی کبله بایده دی چې پلرونه خپل زیات وخت د ځامنو او میندی خپل زیات وخت د لوڼو روزنی ته ورکړی. کله چې ماشومان د اودیپوس احساس د منځه یوسی نو اخلاقی زه یا وجدان منځ ته راځی نو ځکه فرایډ (Freud) وائی چې اخلاقی زه د اودیپوس د احساس میراث دی چې جرړی په «دا» کې پرتی دی.

د پورتنی تحلیل څخه دا نتیجه لاس ته راځی چې «زه» (Ich) او «اخلاقی زه» (über ich) یا وجدان په لومړی سر کې د «دا» (Es) برخی وی. دلته پکار ده چې دا هیره نه شی چې د «زه» د ودی او ددندی دا جرا کولو لپاره انرژی د «دا» څخه راځی. دغه انرژی بې پلوه ده یانی نه د مینی او نه د تیری خوی لری. لدی کبله ویلی شو چې هر څومره چې «زه» زیاته وده وکړی او ډیرکارسرته ورسوی همدغومره د «دا» انرژی کمیږی ځکه چې «زه» د «دا» په اوږو وده او کار کوی. «زه» د «دا» د غلام او برخی په توګه پرله پسی وده کوی او بیا د «دا» په مخه کې ودریدلی شی. که څیر شو نو د «زه» دنده ډیره سخته ده ځکه چې «زه» هغه وخت یو کار سم سرته رسولی شی کله چې د «دا» د «اخلاقی زه» یا وجدان او چاپیریال غوښتنی او اختلافونه یو د بل سره پخلا کولی شی» (۱۶).

د چاپیریال او «دا» د غوښتنو د تضاد په حالت کې «زه» مجبور دی چې ددی پریکړه وکړی چې د «دا» غوښتنی ته هڅو د پوره کیدو اجازه ورکړی او که یو بل مناسب وخت ته ئې وځنډوی.

که چیرته «اخلاقی زه» یا وجدان هم د «زه» سره احتلاف ولری نو بیا «زه» دې ته اړدی چې یو بل قوت هم په سترګو کې ونیسی.

# د ځیږموند فرایډ د ویرې لومړۍ نظریه

فرایډ (Freud) د خپلې څېړنې په لړ کې د لومړي ځل لپاره په ۱۸۹۵ عیسوی کال کې د ویرې پیدا ایښت او منځ ته راتګ ته خپل پام راواړولو او دې نتجې ته ورسیده چې ویره د جنسي انرژۍ د ډب کېدو څخه پیدا کېږي.
په نورو تورو سره کله چې جنسي هڅه د دننیو او یا باندنیو علتونو له کبله خنډ نه او په عادي توګه روانه نه وي نو بیا جنسي انرژۍ ډب او جمع کېږي. دغه جنسي انرژي چې ډب شوي ده د جسماني حساسیت د زیاتوالي سبب ګرځي کومه چې د ویرې نښه ده.

# د ځیږ موند فرایډ د ویرې دوهمه نظریه

د ویرې د لومړۍ نظرئي څخه وروسته ځیږموند فرایډ (Sigmund Freud) یوه ورځ د غرمې ډوډۍ لپاره په یوه میلمستون کې ناست و چې د پوهنتون د روغتون د ځیږنتون د څانګې یوې مرستیالي وویل چې د یوې پوهیدونکي ( محصلې ) نه په ازموینه کې استاد پوښتنه وکړه چې دا څه مانا لري چې ماشوم وځیږي او میتیازي تري لاړي شي.
پوهیدونکي په ځواب کې وویل ځکه چې ویریږي. ټولو ورپوری وخندل او ناکامه شوه.
دې خبرې د فرایډ (Freud) پاملرنه یو ځل بیا ویرې ته راواړوله چې په ۱۹۲۶ عیسوی کال کې د پیبیلې ویرې (Phobie) د څیړنې په ترڅ کې دا ورته په ثبوت ورسیدله چې د نوموړي پوهیدونکي ځواب سم و او په نا حقه نا کامه شویده.
د ځیږیدو درد ناک حالت بیشکه د ویرې سرچینه او د لومړنې ویرې نمونه ده چې بیا د ژوند په مختلفو پړاوونو کې په مختلفو بڼو کې لکه د بیلتون ویره، د خسی کیدلو ویره او داسې نور تکراریږي.

کله چې سړی په ژوند کې داسې بې وسۍ د حالت سره لکه د ځیږیدنې مخامخ شي او یا ئې د مخامخ کیدلو احتمال وي نو د حافظې د پلونو پواسطه د ځیږیدنې د بې وسۍ حالت هوښ ( شعور ) ته راځي چې د ویرې د تکرار سبب ګرځي ( ١٧ ).
که چیرته سړی د فرایډ (Freud) د ویرې لومړۍ نظرئې ته چې ویره د جنسي انرژۍ د ډب کیدو نتیجه ګڼي او د ویرې دوهمې نظرئې ته چې ویره د ځیږیدو د بیوسۍ د حالت تکرار او د جنسي انرژۍ د ډب کیدو علت بولي پام وکړي نو په ظاهري توګه په تضاد کې بریښي خو په حقیقت کې دده د ویرې دوهمه نظریه دده د ویرې لومړۍ نظریه نه ردوي بلکه بشپړوي او دا پدې ډول چې په ځینو حالتونو کې د جنسي انرژۍ د ډب کیدو علت دی او په ځینو حالتونو کې معلول دی. په نورو تورو سره کله ویره د جنسي انرژۍ د ډب کیدو سبب ګرزي او کله د جنسي انرژۍ د ډب کیدو څخه ویره پیدا کیږي نو ځکه د فرایډ (Freud) د ویرې دغه دواړو نظریو ته د طبي ساپوهنې په روغتونو کې په درنه سترګه کتل کیږي یو د بل په ضد نه ګڼل کیږي او دواړه اعتبار لري.

## د فرایډ په نظریه د ویرې منځ ته راتګ

د فرایډ (Freud) په عقیده « زه » دویرې کور او مرکز دی. څرنګه چې د « زه » وده د « وجدان » منځ ته راتلل د خطر د حالاتو په ډډ چې د ویرې سبب ګرزي بې اغیزې نده. نو لدې کبله فرایډ (Freud) دي لاندنیو د خطر حالاتو ته چې د انسان په ژوند کې پر له پسې راځي ګوته نیسي.

**د بیلتون خطر :** د ځیږیدو د خطر څخه ورسته د بیلتون خطر د انسان په ژوند کې لومړنی خطر دی. پدې وخت کې لا ماشوم ډیر وړوکی وي اونه شي کولی چې د مور د تل لپاره د بیلوالي اود یوې شیبې لپاره د بیلوالي په منځ کې توپیر وکړي نو کله چې ئې مور د لږ څه وخت لپاره ځانته پریږي او یا ئې چا ته ورکړي نو ماشوم داسې فکر کوي چې مور ئې د تل لپاره دده څخه لاړه او ډاریږي چې بیرته به ګنې رانه شي.

د بیلتون خطر د ځیریدو د حالت خطر سره دومره توپیر لری چې په هغه وخت کې ماشوم خپله مورنه پیژانده او اوس ئې پیژنی چې دده د اړتیاو د پوره کولو سرچینه ده.

**د ګرانښت د ناسو بتیا خطر**: پدی پړاو کې ماشوم د مور څخه د یوی شیبی لپاره د بیلیدلو او د تل لپاره د بیلیدو توپیر کولی شی او ددی هڅه کوی چې مور ته ګران وی.که مور د ماشوم سره په پوره اندزه سره مینه و نه ښائی او ماشوم ته سوچ پیدا شی چې مور ته ګران ندی نو بیا د ګرانښت د ناسوبتیا د خطر سره مخامخ کیږی.

**د خسی کیدو خطر**: دا د خطر حالت د هلکانو لپاره د خوټی د غوڅیدو او د جنکولپاره د جنسی عضوی د ژوبل کیدو په سوچ کې پروت دی چې په نتیجه کې خسی کیدو ویره پیدا کیږی.

کله چې اخلاقی زه یا وجدان منځ ته راشی نو دغه د « خسی کیدو ویره بیا د وجدان او ټولنیزی ویری بڼه نیسی » ( ۱۸ ).

د وجدان ویره د ګناه ویری مانا لری.

همدغسی په پیبیلی ویری (Phobie) کې فرایډ (Freud) د خسی کیدو د ویری نښی وینی او دا خبره د وړوکی ماشوم هانس (Hans) په مثال سره روښانوی او لیکی چې « وړوکی هانس په لاره نه ځی ځکه چې د آس نه ډاریږی» ( ۱۹ ). چې آس به ئې وخوری. دا خبره د فرایډ (Freud) په ژبه د خسی کیدو مانا لری.

فرایډ (Freud) د هانس (Hans) د ویری علتونه د اودیپوس د احساس په غلط حل کې وینی.

په ځای ددې چې دی د پلار تقلیدو کړی او د مور په ځای د نورو نجونو سره مینه پیدا کړی او د مور د مینی څخه لاس واخلی د مور مینه ئې پری نه ښودله او د پلار سره سیالی ئې د آس په سیالی بدله کړه چې پدی توګه د پلار نه ویره د آس څخه په ویره بدله شوه. ددی پورتنی مثال څخه دا څرګندیږی چې دویری په یو زیات شمیر ډولونو کې د خسی کیدلو د ویری نښی نښانی پیدا کیږی.

په عمومی ډول سره د رښتینی او غیری رښتینی یا ناروغی ویری په منځ کې توپیر کیږی.

رښتیاني ویره د ښکاره بهرنیو خطرونو پوري تړلی ده. دناروغی ویری د خطر شی مالوم نه وی . لومړی بایده دی چې ولتهول شی چې سړی د څه شی څخه ډاریږی.پدی هکله فرایډ (Freud) پخپل یوه تشخیص کې هڅو (Triebe) ته اشاره کوی او د ناروغی ویری علت ئې بولی او زیاتوی چې « که د هڅی خطر یو رښتیانی خطر وی نو بیا ناروغه ویره د ریښتینی ویری ښه لری. مونږ پوهیږو چې هڅی د خطر څخه لکه د بهرنی خطر په شان- زه - ځان ژغوری خو څنګه چې ددننی خطر د منځه وړلو او بچیدو څخه د - زه - د ځان ساتلو وسیلی بشپړی ندی نو سا ایز جوړښت ناروغه خوی پیدا کوی» ( ۲۰ ).

داسی هم کله نا کله پیښیږی چې رښتینی او غیری رښتنی یا ناروغه ویره یو د بل سره ګډه وی. پدی حالت کې خطر ښکاره او رښتیانی دی خو ویره نسبت دغه خطر ته خورا زیاته ده.

په لنډه تو ګه سره ویلی شو چې فرایډ (Freud) د خطر په نښتون کې د ویری دری ښې او چهری سره بیلوی.

۱ ) **رښتینی ویره :** دلته سړی د بهرنی چاپیریال د ښکاره خطرونو سره مخامخ وی چې «زه »تری ډاریږی.

۲ ) **غیری رښتینی یا ناروغه ویره :** پدی ویره کې دننی خطرونه رول لوبوی . په نورو تورو سره هغه خطرونه چې د « دا » څخه راځی او(« دا» هغه بندی شوی هڅی دی چې د هوښ په درشل کې ولاړی دی او هوښ ( شعور ) ته د راننوتو هلی ځلی کوی خو «زه» اجازه نه ورکوی چې هوښ ته راننوزی. د « زه » او دغه هڅو د جګړی په نتیجه کې حساسیت پیدا کیږی کوم چې د ناروغی ویری ښه ده.

۳ ) **د وجدان یا اخلاقی زه څخه ویره :** کله چې وجدان یا « اخلاقی زه » د دود ، دستور او د روا او ناروا ارزښتونو ماتول ډیر ټینګ ونیسی نو « زه » د « اخلاقی زه » یا وجدان څخه ډار پیدا کوی چې دغه د ګنا نه ویره هم نومیږی ځکه چې اخلاقی زه د مور او پلار استازانو ، چم ګاونډ او چاپیریال د غوښتنو نماینده دی او « زه » ته وائی چې دا کار کوه ښه دی او دا کار مه کوه بد دی.

## د ویلهلم رایښ د ویرې نظریه

ویلهلم رایښ (Wilhelm Reich) د لوړې او د مینې په بنسټ خپله د ویرې نظریه پدې ډول څرګندوي چې وائي لوږه د یوه منفي حالت ښه ده. د ډوډۍ خوړل او مړیدل کومه ایضافي انرژي نه پیدا کوي بلکه د کمښت د پوره کیدلو مانا لري.
د هغه خوراکي مواد چې سړی ئې وخوري یوه برخه په جنسي انرژي بدلیږي. جنسي انرژي د خپل تولیدي خوي سربیره د کار په انرژي او نورو ټولنیزو ارزښت لرونکو انرژیو بدلیدلی شي.
نو ځکه ویلهلم رایښ (Wilhelm Reich) د لوږې په څوا کې مینه نه هیروي او وائي چې انسان د لوږې او مینې د اړتیاو د پور کولو لپاره مجبور دی چې د خپل چاپیریال او ټولنې سره په تماس کې وي. چاپیریال او ټولنه تل د مینې ټولو اړتیاو او غوښتنو ته هر کلی نه وائي بلکه کله کله ئې غندي. کله چې د مینې اړتیا د چاپیریال او ټولنې له خوا وغندل شي نو بیا د تیښتې چې د ویرې مانا لري او یا د تیرې ښه نیسي. دا چې ځینې تیرې هم د چاپیریال او ټولنې له خوا ناروا ګڼل کیږي او منع دي نو بیا تیرې د ویرې جامې اغوندي د بلې خوا تیرې د ویرې پواسطه د ویرې له امله د ویرې د علت د منځه وړلو او یا د ویرې د خطر نه د بچیدو په غرض غښتلې کیږي. خو څنګه چې هر نوې تیرې او یا د نوې تیرې نیت د چاپیریال او ټولنې له خوا په سزا در سیدلو احتمال لري نو لدې کبله ویره تیرې او تیرې ویره زیاتوي چې په پای کې نه یوازې د جنسي انرژې د ډب کیدنې سبب ګرزي چې د ویرې علت دي بلکه تیرې ځانته راګرزي چې نتیجه ئې د ځان پخپله مرګ دی (۲۱).

## دالفرد اډلر د ویرې نظریه

الفرد ادلر (Alfred Adler) د ځیږمونډ فرایډ (Sigmund Freud) شاګرد و. ده د خپل استاد لاره ونه نیوله او ژوري ساپوهنې (Psychoanalyse) ته ئې په بل پلو وده ورکړه. دی د خپل استاد فرایډ (Freud) په شان د ساایزو پیښو د علت پوښتنه نه کوي بلکه د هدف تپوس ئې کوي.

لدی کبله ده خپله نطریه د زور په هڅه ودروله. دغه هڅه پدی هدف منځ ته راځی چې د جسمانی او معنوی کمښت احساس د منځه یوسی.
ادلر(Adler) د زور هڅه بنستی ګڼی او ټولی نوری هڅی د فرایډ (Freud) د مینی او تیری د هڅو په ګډون د زور د هڅی پوری تړلی ګڼی. په نورو تورو سره ادلر(Adler) د زور هڅه د ټولو ساایزو لانجو ربړو او کړکیچونو بنسټ او د انسانی اړیکو ټاکونکی ګڼی او د ویری علتونه هم د زور په هڅه کې لټوی او وائی چې ویره د زوروری بهرنی نړۍ په مقابل کې د کمزورۍ بې وسی او کمښت د احساس (کمترۍ د احساس ) له امله پیدا کیږی ( ۲۲ ).

## د خوشحال « خټک » د ویری نظریه

نه یوازی ادلر(Adler) بلکه زمونږ د پښتنو نیکه خوشحال خان خټک هم ویره د کمزورۍ سره په نښتون کې وینی او په خپل یوه شعر کې وائی.

زه خوشحال کمزوری نه یم چې به ډار کړم
په ښکاره ناری وهم چې خوله ئې راکړه

د خوشحال بابا ددی شعر څخه راپه ګوته کیږی چې کمزوری د زورور څخه ډاریږی، خو دا ددی مانا نه لری چې زورور نه ډاریږی. زورور هم د خپل زور د لاس نه د ورکولو د خطر له امله ویریږی.

## د یونګ د ویری نظریه

ددی لپاره چې یونګ (Jung) د ویری په نظریه ښه پوه شو د هغه د هوښ بهر یا بی هوښ ( غیر شعور ) استلا ته لنډ نظر اچوو.
یونګ (Jung) بی هوښیږی ( غیری شعوری ) ساوالی ( روحی یا نفسی ) پیښنی په « ډله ایزو » او « ځانګړو» پیښنو ویشی.
« ځانګړی بی هوښیږه پیښنی » په پاسنی پوړ کې پرتی دی چې ډډ ئی د یوه تن دمالوماتو او تجربو څخه جوړ شویدی. « ډله ایزی بی هوښیږه سا والی پیښنی» په لاندنی پوړ کې دیره دی.

د ډله ایزو بی هوښیره ساوالو پیښنو ډډ د ګډو او عمومی مالوماتو څخه جوړ شویدی چې د یونګ (Jung) په ژبه ارشی تیوپ (Archetypus) نومیږی.
د ارشی تیوپ (Archetypus) د روښانولو او څرګندولو لپاره دی دغی ښبوښبانو ته ګوته نیسی چې په کیسو او افسانو کې راځی لکه بلا ، شیشکه، پیریان او داسی نور.
دغه د یوه کول (نسل) څخه بل کول ته د مور او پلار ، چم ګاونډ او ټولنی پواسطه نقل کیږی. د یونګ (Jung) په عقیده ویره هغه وخت منځ ته راځی کله چې بی هوښیره (غیری شعوری) ساوالی پیښنی په هوښیره (شعوری) ساوالو پیښنو داړه او یرغل وکړی. پدی ترڅ کې سایز انډول خرابیږی چې ویره تری پیدا کیږی (۲۳).
یونګ (Jung) نه د فرایډ (Freud) د مینی او تیری د هڅو او نه د ادلر (Adler) د زور د هڅی څخه انکار کوی ځکه چې ده ته خپله په شمیریز څیړنو کې ثابته شویده چې د ویری داسی بڼی هم شته دی چې علت ئی د جنسی انرژی ډب کیدنه او یا د زور هڅه ده خو دی د ویری کره علت د سایز انډول په خرابیدو کې وینی.

## لنډیز او تبصره

که ځیر شو نو وبه وینو چې فرایډ (Freud) د ساوالو پیښنو او فعالیتونو او پدی توګه د ویری د منځ ته راتګ او پیدا ایښت تومنه د مینی او تیری په هڅو کې او ادلر (Adler) ئې د زور په هڅه کې وینی. رایښ (Reich) دغه بیا د مینی او لوږی په اړتیاو کې لټوی.
که څه هم دلته دا انتقاد په ځای دی چې هڅی د ساوال ژوند یوه کوچنی برخه جوړوی او سړی نه شی کولی چې د ټولو ساوالو پیښنو او فعالیتونو پوله په هڅو تنګه کړی خو پدی هم سړی سترګی پټولی نه شی چې هڅی او اړتیاوی په ساوالو پیښنو او فعالیتونو کې کره رول لوبوی او د انسان د کړو وړو (سلوک) انرژی او د حرکت قوه ده.
کارل مارکس (Karl Marx) هم پخپل تحلیل کې هڅی د پامه نه اوباسی او د ثابتو (Konstante) او نسبتی (relative) هڅو په منځ کې توپیر کوی. ثابتی هڅی د انسان د طبیعت یوه برخه ده او د ځیریدو د ورځی راهسی دغه هڅی لری.

ثابتي هڅې د هر ډول ټولنيزو شرايطو د لاندې انسانان لري. ټولنيز شرايط يوازې د ثابتو هڅو په بڼه او پلو اغيزه کولی شي. نسبتي هڅې د خاصو ټولنيزو شرائطو د لاندې منځ ته راځي.

مارکس (Marx) جنسي اود لوږې هڅې د ثابتو هڅو په ډله کې او د رويتوب (حرص ) هڅه د نسبتي هڅو په ډله کې شميري ( ۲۴ ).

لنډه دا چې هڅې * د ويرې په منځ ته راتګ او پيدا ايښت کې مهم رول لوبوی او په موروثي او غيرو موروثي ويشل کيږي.

همدغسې د يونګ (Jung) د ډله ايزو بې هوښيره پيښو استلا يو پر مختګ دی او مونږ ته د ډله ايزې ويرې موجوديت راپه ګوته کوی. که څه هم دا د ساوال انډول خرابيدو ګڼنه ( فرضيه ) چې د ويرې سبب ګرځي عمومي او مجهول خوی لری چې لږ عملي کار تری اخستل کيدلی شي.

---

*کله چې مونږ د هڅې نه خبرې کوو نو د هڅې لرلو او هڅې کولو په منځ کې لکه د خوب ليدل او د خوب کولو په شان تو پير کوو. هڅه کول د هاند يا کوښښ په مانا او هڅه لرل د Trieb او Drive په مانا استمالوو.

# د ويرې تلل او پيمانه کول

د ويرې د تللو او پيمانه کولو په برخه کې بنسټي ستونزې پدې کې پرتې دی چې سړی ويره د نورو ساايزو بدرګه پيښو څخه په اساني نه شي بيلولی خو سره ددی هم د ويرې د اندازه کولو لپاره يو زيات شمير تلې (Scale) او پيمانې (Tests) شته دی لکه د ټيلر (Taylor) د ښکاره ويرې تله (Manif.Anxiety Scale) او د ټورنر ( Thurner ) اوټيوس ( Tewes ) د ماشومانو د ويرې پيمانه ( Kinder Angst Test) د ډيکسن (Dixon) د ويرې تله (Anxiety Scale) او داسې نور.

خو مونږ نه غواړو چې دلته د ویرې مختلفی تلی او پیمانی راغونډی کړو او یوازی د ویری په هغه تله رڼا اچوو چې مونږ د ویری د مختلفو تلو او پیمانو د څیړنی په نتجه کې د پښتنی ټولنی لپاره ددغی تلی د اتبار په پام کې نیولو سره جوړه کړیده.
دا تله د پنځوسو ( ۵۰ ) پوښتنو څخه جوړه شویده چې په « هو » او « نه » باندی جواب ورکول کیږی. که څوک غواړی چې خپله ویره پخپله اندازه کړی نو همدلته دی د کتاب لوستل نور بس کړی او د لاندی تلی پوښتنو ته دی په هو او نه سره ځواب ورکړی.

# د ویری تله

| پـوښـتـنـې | | ځـوابـونـه | |
|---|---|---|---|
| | | هو | نه |
| ۱ | زما لاسونه او پښې تل عادي حرارت لري؟ | | |
| ۲ | زه په میاشت کې یو یا څو ځل ایسال کیږم؟ | | |
| ۳ | زه کله کله په قهر کیږم؟ | | |
| ۴ | زه کله کله په ځان باور نلرم؟ | | |
| ۵ | په ما کله کله سرګرزي او کانګي راځي؟ | | |
| ۶ | ځما خوب ډیر خراب او نا ارامه دی؟ | | |
| ۷ | زه ډیر کم قبضیت لرم؟ | | |
| ۸ | ما ته کله کله ځان بې ارزښته ښکاري | | |
| ۹ | ما هیڅکله د چا سره بې لوزي او وعده خلافي نده کړې؟ | | |
| ۱۰ | ځما تل خیټه خوږیږي؟ | | |
| ۱۱ | زه ډیر ژر ستړی کیږم؟ | | |
| ۱۲ | ما ته ډیر وخت واړه شیان ډیر غټ ښکاري؟ | | |
| ۱۳ | زه تل رښتیا وایم ؟ | | |

| پوښتنې | | ځوابونه | |
|---|---|---|---|
| | | هو | نه |
| ۱۴ | زه په يخنۍ کې هم کله کله خولې کيږم ؟ | | |
| ۱۵ | ځما ډير وخت سر خوږي ؟ | | |
| ۱۶ | زه ځنې وخت دومره عصبي يم چې خوب نه راځي؟ | | |
| ۱۷ | ټول هغه کسان چې زه ئې پيژنم په ما ډير ګران دي او يو مې هم بدې نه راځي ؟ | | |
| ۱۸ | زه تل د لوږې احساس لرم که څه هم ډوډۍ مې خوړلې وي؟ | | |
| ۱۹ | ځما ستونزې او ربړې دومره زياتې دي چې د حل اميد ئې نلرم ؟ | | |
| ۲۰ | ځما رنګ ژر نه تښتي ؟ | | |
| ۲۱ | ځما وار وپار په وړه پيښه کې هم کله کله خطا کيږي ؟ | | |
| ۲۲ | زه کله کله په داسې خرابو شيانو کې فکر وهم چې په هغو باندې د چا سره ګړيدلې نه شم ؟ | | |
| ۲۳ | ځما په ژوند کې داسې وخت هم و چې د ډيره غمه خوب نه راتلو ؟ | | |
| ۲۴ | زه په لويو جرګو کې چې ډير خلک راټول شوي وي تنګيږم ؟ | | |
| ۲۵ | زه فکر کوم چې د ډيرو خلکو زه نه خوښيږم ؟ | | |
| ۲۶ | زه زيات وخت عصبي يم ؟ | | |

| ځوابونه | | پـوښـتـنـې | |
|---|---|---|---|
| نه | هو | | |
| | | زه کله نا کله هغه کار چې سمدستی کول پکار دی بل وخت ته پرېږدم | ۲۷ |
| | | زه کله کله ځان یوازې حس کوم که څه هم د ملګرو سره یم ؟ | ۲۸ |
| | | زه تل په خپل راتلونکې کې چرت وهم | ۲۹ |
| | | کله چې زه په شړو ځایونو یا لارو تیرېږم غوښې مې ځیږیږي ؟ | ۳۰ |
| | | ځما زړه غربیږي کله چې د ډیرو خلکو په مخکې خبرې کو ؟ | ۳۱ |
| | | ما ته کله کله په بې ادبه ټوکه خندا راځي ؟ | ۳۲ |
| | | ځما سره تل دا خیال وي چې ناروغي یا بل څه به راپېښ شي ؟ | ۳۳ |
| | | زه په تش کور کې چې خلک پکې نه وي تنګیږم ؟ | ۳۴ |
| | | زه نسبت نورو ته ډیره حوصله لرم ؟ | ۳۵ |
| | | زه ډیر کلک زړه لرم او هیڅکله مې ژړلي ندي ؟ | ۳۶ |
| | | زما سره د خپلو خپلوانو او دوستانو غم وي چې څه بد څه ورپیښ نه شي ؟ | ۳۷ |
| | | زما د شپې په تیاره کې چیرته تګ نه خوښیږي ؟ | ۳۸ |
| | | زه په جرګو او غونډو کې ځکه چوپ ناست یم چې کومه غلطه خبره ونکړم ؟ | ۳۹ |

| پوښتنې | | ځوابونه | |
|---|---|---|---|
| | | هو | نه |
| ۴۰ | کله کله ځما په سترګو تکه تیاره راشي چې رڼا ورځ را ته شپه بریښي ؟ | | |
| ۴۱ | ځما کله کله لاس، سترګې، وښکې یا کوم بل ځای بې اختیاره رپیږي یا ریږدي ؟ | | |
| ۴۲ | زه هر شي ډیر جدي او مهم نیسم ؟ | | |
| ۴۳ | ما سره تل ددې غم وي چې نورو ته کم عقل ښکاره نه شم ؟ | | |
| ۴۴ | ما هیڅکله دروغ ندي ویلي ؟ | | |
| ۴۵ | کله کله زه داسې فکر کوم چې څه راکې نیمګړې دي ؟ | | |
| ۴۶ | ما سره تل ددې اندیښنه وي چې څه میکروب راپورې نه شي ؟ | | |
| ۴۷ | ځینې ژوې او حیوانات چې د ټولو خلکو خوښیږي او مینه ورسره لري ځما بدې شي ؟ | | |
| ۴۸ | ما تل خپله ژمنه سرته رسولې ده ؟ | | |
| ۴۹ | زما سره کله کله دا خیال وي چې بلا یا پیریان به مې وخوروي ؟ | | |
| ۵۰ | زه ډیر خراب خوبونه ویم ؟ | | |

# د ویری تول

د ویری د تول لپاره پکار دی چې د خبرو وینا او یا لوست ژبه د شمیر په ژبه واړول شی او دا پدی توګه سره کیدای شی چې د هری پوښتنی وزن او ارزښت وټاکل شی. د ویری دا تله د پنځوسو ( ۵۰ ) پوښتنو څخه جوړه شویده چې لس پوښتنی ( ۳ ، ۹ ، ۱۳ ، ۱۷ ، ۲۲ ، ۲۷ ، ۳۲ ، ۳۶ ، ۴۴ ، ۴۸ ) دروغ اندازه کوی او پاتی نوری پوښتنی ئې ویره اندازه کوی. پدی تله کې ټولی پوښتنی که د دروغو وی او که د ویری وی یو شانته وزن او ارزښت لری. لدی کبله سرې هری پوښتنی ته یو خورد یا یو پاو یا یو چارک یا یو من وزن منلی شی او یا یوه نمره ورکولی شی. پدی توګه سره دخبرو یا وینا ژبه د شمیر په ژبه اړول کیږی او دوه معیارونه،میچونه یا پیمانی پدی تله کې لاس ته راځی چې یوه ئې د لسو او بله ئې دڅلویښتو نمرو ( یا خوردونو یا پاوونو یا چار کونو یا منونو ) څخه جوړه شویده چې سړی پری د مختلفو کسانو په منځ کې دروغ او ویره پرتله کولی شی.

# ۱ـ جدول

پدی جدول کې هغه ځوابونه راپه ګوته شوی دی چې د دروغو او یا ویری مانا ورکوی.

| د پوښتنو لمبر | د پوښتنو ډول | ځواب |
|---|---|---|
| ۱ | ويره | نه |
| ۲ | ويره | هو |
| ۳ | دروغ | نه |
| ۴ | ويره | هو |
| ۵ | ويره | هو |
| ۶ | ويره | هو |
| ۷ | ويره | نه |
| ۸ | ويره | هو |
| ۹ | دروغ | هو |
| ۱۰ | ويره | هو |
| ۱۱ | ويره | هو |
| ۱۲ | ويره | هو |
| ۱۳ | دروغ | هو |
| ۱۴ | ويره | هو |
| ۱۵ | ويره | هو |
| ۱۶ | ويره | هو |
| ۱۷ | دروغ | هو |
| ۱۸ | ويره | هو |
| ۱۹ | ويره | هو |
| ۲۰ | ويره | نه |
| ۲۱ | ويره | هو |
| ۲۲ | دروغ | نه |
| ۲۳ | ويره | هو |
| ۲۴ | ويره | هو |
| ۲۵ | ويره | هو |

| د پوښتنو لمبر | د پوښتنو ډول | ځواب |
| --- | --- | --- |
| ۲۶ | ویره | هو |
| ۲۷ | دروغ | نه |
| ۲۸ | ویره | هو |
| ۲۹ | ویره | هو |
| ۳۰ | ویره | هو |
| ۳۱ | ویره | هو |
| ۳۲ | دروغ | نه |
| ۳۳ | ویره | هو |
| ۳۴ | ویره | هو |
| ۳۵ | ویره | نه |
| ۳۶ | دروغ | هو |
| ۳۷ | ویره | هو |
| ۳۸ | ویره | هو |
| ۳۹ | ویره | هو |
| ۴۰ | ویره | هو |
| ۴۱ | ویره | هو |
| ۴۲ | ویره | هو |
| ۴۳ | ویره | هو |
| ۴۴ | دروغ | هو |
| ۴۵ | ویره | هو |
| ۴۶ | ویره | هو |
| ۴۷ | ویره | هو |
| ۴۸ | دروغ | هو |
| ۴۹ | ویره | هو |
| ۵۰ | ویره | هو |

**ارزښتنه او نتيجې :** هغې پوښتنو ته چې د پورتنى جدول په شان په هو او نه ځواب ورکړ شوى وى يا نى د دروغو يا ويرى مانا ورکوى يوه نمرى ( يا خودر ، پاو ، چارک ، يا من وزن ) ورکول کيږى . هغى پوښتنو ته چې بر خلاف ددغه جدول د ځوابونو ځواب ورکړى شوى وى يا سپينى پريښودل شوى وى او هيڅ ځواب نه وى وکړ شوى صفر نمره ورکول کيږى. پدى ډول د درغو د ډير نه ډيرى لس نمرى او د ويرى د ډير نه ډيرى څلويښت نمرى لاس ته راځى چې مونږ دغه دواړه يانى هم د دروغو او هم د ويرى نمرى په درى ډلو ويشو. په دوهم جدول کې د ويرى يا ډار نمرى او په دريم جدول کې د درغو نمرى په ډلو ويشل شويدى.

## ٢ ــ جدول

| نمرى | ويره يا ډار |
|---|---|
| ١ ــ ١٠ | لږ ډارن |
| ١١ ــ ٢٩ | برابر ډارن |
| ٣٠ ــ ٤٠ | ډير ډارن يا ناروغه ويره |

## ٣ ــ جدول

| نمرى | دروغ |
|---|---|
| ١ ــ ٣ | لږ دروغجن |
| ٤ ــ ٧ | برابر دروغجن |
| ٨ ــ ١٠ | ډير دروغجن |

**د نتيجو مانا :** د تول د نظريي له مخې د نتيجو د سمې مانا لپاره د تلې د « ډاډ » يا « باور » ( Reliability ) او « اتبار » ( Validity ) پيژندنه پکار ده.

هر څومره چې يوه تله سمه او دقيقه تلل کوي هغومره ئې نتيجې د « ډاډ » يا « باور » وړ دي. « اتبار » يوه تله هغه وخت لري کله چې هغه څه اندزه کوي چې سړی اندازه کول غواړی.

د ويری ددی تلی « اتبار » پدی کې پروت دی چې پوښتنی ئې د ويری د نښونښانو په باره کې دی او « ډاډ » يا « باور » ئې د دروغو د اندازه پواسطه ټاکل کيږی، کومی چې منطقی پوښتنی دی چې د عمومی تجربی په بنسټ ولاړی دی. هر څومره چې سړی زيات دروغجن وی هغومره ئې د ويری پوښتنی هم په دروغو ځواب کړيدی او د ډاډ او باور وړ نه دی. هر څومره چې سړی لږ دروغجن وی هغومره ئې د ويری پوښتنی هم په رښتيا ځواب کړی دی چې پدی حالت کې د ويری د پوښتنو ځوابونو د ډاډ او باور وړ دی.

## ۴ ـ جدول

| دروغ | ویره |
|---|---|
| پوښتنی | ډاډ % |
| صـــفر | ۱۰۰ |
| ۱ | ۹۰ |
| ۲ | ۸۰ |
| ۳ | ۷۰ |
| ۴ | ۶۰ |
| ۵ | ۵۰ |
| ۶ | ۴۰ |
| ۷ | ۳۰ |
| ۸ | ۲۰ |
| ۹ | ۱۰ |
| ۱۰ | صفر |

د څلورم جدول څخه جوتیږی که چا د دروغو لس واړه پوښتنو ته داسی ځواب ورکړی وی چې د دروغو مانا ولری نو بیا د ویری پوښتنی صفر یا هیڅ د « ډاډ » وړنه دی.

که نهه پوښتنو ته ئي داسی ځواب ورکړی وی چې دروغو مانا ولری نو بیا په سلو کې لس د ویری د پوښتنو ځوابونه د « ډاډ » وړ دی. همدغسی که اتو پوښتنو ته ئي نو بیا په سلو کې شل، که اوو پوښتنو ته نو بیا په سلو کې دیرش ،که شپږو پوښتنوته نو بیا په سلو کې څلویښت ،که پنځوپوښتنو ته نو بیا په سلو کې پنځوس ، که څلورو پوښتنو ته نو بیا په سلو کې شپیته که دری پوښتنو ته نو بیا په سلو کې اویا ، که دوو پوښتنو ته نو بیا په سلو کې اتیا او که یوی پوښتنی ته داسی ځوابورکړ شوی وی چې د دروغو مانا ولری نو بیا د ویری د پوښتنو ځوابونه په سلو کې نوی رښتیا او « ډاډ » وړ دی.

که چا د درغو ټولو پوښتنو ته داسي ځواب ورکړی وی چې د دروغو مانا نه لری یا نی ډیر رښتونی تن وی نو بیا د ویری د پوښتنو ځوابونه سل په سلو کې د « ډاډ » ورږ دی.
لنډه دا چې کله چې سړی ډیر دروغجن وی او د دروغو د اتو نه نیولی تر لسو واړو پوښتنو پوری داسی ځواب کړی وی چی د دروغو مانا ولری نو بیا د ویری د پوښتنو په ځوابونو « باور » پکار ندی، خو دروغ خپله هم د ویری مانا لری ځکه چې پدی حالت کې سړی د زړه د خبری او راز د ښکاره کیدلو څخه ډاریږی.
کله چې سړی برابر دروغجن وی یانی د درغو د څلورو څخه تر اوو پوری پوښتنو ته ئی داسی ځواب ورکړی وی چې د دروغو ماناولری ( دریم جدول پرتله کړی ) نو بیا د ویری پوښتنی څه نا څه د « ډاډ » ورږ دی خو مانا او څرګندونه ئې په احتیاط سره پکار ده. خو که د درغو اندازه ددی څخه ټیه وی نو بیا ویری د پوښتنو ځوابونه پوره د « ډاډ » ورږ دی. پدی حالت کې که چا د دیرشو څخه تر څلویښتو پوری د ویری پوښتنی داسی ځواب کړی وی چې د ویری مانا ولری نو بیا دغه ویره ناروغه ویره ده چې درمل ئې خامخا پکار دی ( دوهم او دری جدول پدی هکله هم کتلی شی ) .
که څوک غواړی چې د ویری د پوښتنو نتیجی سل په سلو کې « ډاډ » ورکړی نو د څلورم جدول په مرسته کولی شی او دا پدی توګه چې هر څومره چې سړی د روغجن وی په هماغه تناسب د ویری پوښتنی وشمیر ی د مثال په توګه که چا د دروغو دری پوښتنو ته داسی ځواب ورکړی وی چې د دروغو مانا ولری او د ویری پنځه دیرش پوښتنو ته ئې داسی ځواب ورکړی وی چې د ویری مانا ولری نو پدی حالت کې د څلورم جدول له مخی په سلو کې په اویا « ډاډ » او « باور » سره دوهم جدول په ښښتون کې ویلی شو چې دغه ویره ناروغه ویره ده.
که وغواړو چې په سلو کې په سل ډاډ سره دغه نتیجی مانا کړو نو بیا پکار ده چې بیا پنځه دیرش په اویا کې ضرب او په سلو ئې وویشو.

$$۲۴،۵۰ = \frac{۳۵ \times ۷۰}{۱۰۰}$$

پدی توګه سره د ویری د پوښتنو شمیر ۵۰ ، ۲۴ ته راټیټ شو .د دریم جدول له مخې د ډیر ډار له پړاو څخه د برابر ډارن پړاو ته راښکته شو. په نورو تورو سره مونږ سل په سلو کې په ډاډ سره ویلی شو چې دغه سړی ډیر ډارن دی.
د ویری د څرنګوالی ( کیفیت ) د څرګندولو لپاره د ویری د تلی پوښتنو متن او ډاډ ته نظر اچول پکار دی د هغه پوښتنو د ډډ او متن څخه چې داسی ځواب شوی وی چې د ویری مانا ولری جوتیدلی شی چې سړی څه ډول ویره لری . پیپیلی نا پیپیلی که ټولنیزه او یا بل ډول ویره ده.
همدغسی هغه کسان چې ددی تلی د یارلسمی او څلورڅلویښتمی پوښتنو ته ئې مختلف ځوابونه ورکړی وی داسی کسان دی چې د دروغو هڅه کوی او یا ئې په دروغو نوی پیل کړی دی او په چل ئې پوره نه پوهیږی. ځکه چې دغه دواړه پوښتنی د دروغو یوه پوښتنه ده او یوازی په منفی او مثبت دوه پوښتنی شویدی.

# د ویری درمل

ویره دوه اړخه لری چې یو ئې جسمانی او بل ئې ساوال اړخ دی. لدی کبله د ویری درمل هم دوه اړخه لری چې یو ئې ساوال او بل ئې جسمانی یا طبی اړخ دی. دا چې په کومه اندازه د ویری په ساوال او په کومه اندازه د ویری په جسمانی او یا طبی دومل زور واچول شی ددی پوری اړه لری چې د ویری ددغه دواړو اړخونو څخه کوم یو اړخ دروند دی او کره رول لوبوی.

**د ویری جسمانی یا طبی درمل** : د دارو او دوا دلاری ویری درمل په هغه وخت کې اغیزه ناک او ګټور دی که چې د ویری جسمانی اړخ کره رول لوبوی خو په خوا کې ساوال درمل هم پکار دی.
د طبی ساپوهنی په روغتونونو کې د ویری هغه ناروغانو ته چې دننی یا بهرنی عقلی او عصبی ناروغی ( endog. und exog. Psychosen ) ولری لار ګاټیل یا میګافن (Largactil=Megaphen) ترکتان یا تروکسال (Taractan=Truxal)او نوویرل (Noveril) ورکول کیږی.

د ویری هغه ناروغانو ته چې عصبي تکلیف (Neurose) لري بیا میلرل (Melleril) او هوپرفورات (Hyperforat) ورکول کیږي . دغه ټولې پورتني دواګانې بې د هوپرفورات (Hyperforat) څخه چې یوه د بوټو څخه جوړه شوی دوا ده لږې یا ډیرې غاړه ایزې (فرعي) اغیزې لري. لدې امله که ډیره اړتیا ورته نه وی د استمال څخه ئې ډډه پکار ده. دغه ټولې دواګانې ویره د منځه وړلې نه شي بلکه د څه مودې لپاره ئې کموې او مخه ئې نیسي. لدې کبله ددې په خوا کې ساا‌ول درمل پکار دی. په تیره بیا د هغه ویری جړې چې د عصبي او عقلي ناروغیو (Psychose) څخه بدرګه نه وی او یوازې د عصبي تکلیف (Neurose) څخه بدرګه وی یوازې او یوازې ساوال درمل وښکدلی شي.

**د ویری ساوال درمل:** د ویری ساوال درمل له یوې خوا د ویری د مختلفو نظریو او له بلې خوا د ویری د خطر د شي په نښتون کې کیږي ځکه چې ویره یو داسې احساس د ی چې علت ئې خطر دی. دغه خطر کیدای شي چې دنني یا باندیني پټ یا ښکاره ربنتیانی یا غیری ربنتیانی وی.

**دنني خطر :** د «دا» او یا اخلاقي زه (وجدان) له اړخه خطر لکه د دوزخ خطر ، دعذاب خطر او داسې نور.

**باندیني خطر :** لکه د غربت خطر ، د افت خطر ، د مرګ خطر ، د ناروغی خطر او داسې نور چې زمونږ نړۍ ترې ډکه ده.

**ربنتیاني خطر :** چې د خطر شی واقعآ موجود وی.

**غیری ربنتیاني خطر :** چې د خطر شی هیڅ نه وی او سړی تش یو ذهنی احساس د خطر کوی.

**ښکاره خطر :** چې د خطر شی مالوم او څرګند وی.

**پټ خطر :** چې د خطر شی غیب او نا مالوم وی.

کله کله داسی هم کیدای شی چې په ظاهره سرې ته یو شی خطر ښکاری خو په حقیقت کې خطر بل شو وی لکه د مثال په توګه یو ماشوم په ظاهر کې دآس نه ډاریږی او په حقیقت کې د خپل پلار څخه.

خطر کیدای شی چې دایمی یا عرضی او موقتی خوی ولری یانی په یوه ټاکلی شیبه کې ذهنی یا عینی انتظار کیږی. خطر کیدای شی چې د انسان د تیر شوی ، راتلونکی او یا اوسنی وخت پوری ربتیانی او یا غیری ربتیانی ( تش ذهنی ) اړه ولری او یا د مختلفو وختونو پوری تړلی وی.

دا چې مختلف ډول خطرونه شته همدغسی د ویری هم مختلف ډولونه شته دی خو په عمومی ډول د روغی او ناروغی ، د پیبیلی او نا پیبیلی ویری په منځ کې توپیر کیږی. د پیبیلی ویری د خطر شی مالوم وی او د ناپیبیلی ویری د خطر شی نا مالوم وی. نا پیبیلی ویره د پیبیلی ویری جګ پړاو دی چې د خطر د شی پوری د پیبیلتوب مزی شکیدلی وی.

که چرته دا څرګنده نه وی چې سړی د څه شی څخه ډاریږی یانی ناپیبیلی ویره لری نو بیا پکار ده چې نا پیبیلی ویره په پیبیلی ویره بدله شی. نا پیبیلی ویره ساپوه د ویری لرونکی د ژوند د تاریخ او نورو ساوالو تخنیکونو او مسلکی مالوتو په مرسته په پیبیلی ویره بدلولی شی، یانی د خطر شی ئې مالومولی شی چې د څه شی نه سړی ډاریږی. دلته دا پروانه کوی چې دغه شی د ویری سره حقیقی او ظاهری اړیکی لری ځکه چې د رمل لومړی د ویری د ظاهری شی په نښتون کې پیل کیږی او بیا د ویری حقیقی شی ته سړی راځی. کیدای شی چې د ظاهری شی د ویری د درمل پواسطه د حقیقی شی څخه هم ویره ورکه شی او د حقیقی شی د ویری درمل ته هیڅ حاجت پاتی نه شی.

دروغی پیبیلی ویری درمل ته اړتیا نه لیدل کیږی ځکه چې هر څوک دغه شان ویره لری لکه د زهرلرونکو مارانو څخه ویره . خو که د زهرلرونکو مارانو څخه ویره نسبت هغی ته چې په عمومی توګه ئې خلک لری ډیره زیاته وی نو بیا دغه هم په ناروغه ویره کې شمیرل کیږی. د ناروغی ویری ساوال درمل خامخا پکار دی.

د ناروغی پیبیلی ویری د ساوال درمل لپاره مختلفی لاری شته دی چې مونږ ئې ځینی مهمی په لنډه توګه دلته روښانوو.

## ۱ ) د پاتکي په پاتکي اشنا کولو لاره :

ددی لاری بنسټ پدی ولاړ دی چې ویره لرونکی پاتکی په پاتکی د ویری د شی سره چې ده ته خطرناک ښکاری بلد او اشنا کیږی.

**مثال :** ماشوم زمری د آس نه ډاریږی.

پدی حالت کې ساپوه ته پکار دی چې لومړی زمری دی ته چمتو کړی چې دده سره نوری کتنی وکړی. په دوهمه کتنه کې د خبرو په ترخ کې ورته یوازی د آس نوم یاد کړی. په دریمه کتنه کې بیا نه یوازی ورته د آس نوم یاد کړی بلکه د لوبو آس ورته هم لنډ ښکاره کړی. په څلورمه کتنه کې بیا د لوبو آس ورته په لاس کې ورکړی. په پنځمه کتنه کې بیا ورته د رښتیانی آس د راتګ څخه خبری وکړی او شپږمه کتنه کې بیا ورته رښتیانی آس راولی او یا زمری رښتیانی آس ته ورولی او په اومه کتنه کې آس ورسره په زیات تماس کې راولی.
زمری پدی توګه پاتکی په پاتکی د آس سره اشنا کیږی چې ده ته خطرناک بریښنده او دا پته ورته لګیږی چې آس هډو خطرناک ندی او د آس څخه ویره ئې ورکیږی.

## ۲ ) منطقی لاره :

پدی لاره کې په منطقی ډول او دلائلو سره ناروغ ته د خپلی ناروغی مانا او ارزښت ورپه ګوته کیږی او پدی توګه د خطر د شی په مقابل کې دده د فکر نظریو او دریز د بدلیدلو هڅه کیږی.

**مثال :** یوه ښځه داسی فکر کوی چې لاسونه ئې پاک مینځلی ندی او ددی څخه ډاریږی چې خلک به ووائی چې لاسونه ئې خیرن دی نو بار بار خپل لاسونه مینځی.
پدی حالت کې ساپوه دغه ښځی ته وائی چې خپل لاسونه لا پسی زیات ومینځی یانی که په ورځ کې لس ځلی مینځه اوس ئی شل یا دیرش ځلی ومینځی ترڅو چې دا پته ورته ولګیږی چې دغه کار مبالغه دی او د لاسونو بار بار مینځل ورته بې مانا او بې ارزښته ښکاره شی او لاس تری واخلی ( ۲۵ ).

ساپوه کولی شی چې دغی ښځی ته داسی سلا ورکړی چې خپل لاسونه نه مینځی او پری ئې ږدی چې ډیر خیرن شی او دلیلونه وروړاندی کړی چې په عمومی توګه خلک په ورځ کې دومره پیره لاسونه منیځی او یا کوم خاص صابون ورته یاد کړی چې ددغه صابون په استمال سره بیا دومره زیات د لاسونو مینځلو ته حاجت نه پاتی کیږی خو د جبری سلوک ناروغان د لاسونو د زیات مینځلو سلا نسبت د لاسونو دنه مینځلو سلا ته په اسانی سره منی.

## ۳ ) د تمرین لاره :

ددی لاری بنیاد په تمرین ولاړ دی چې د ساپوه په سلا او مشوره ئې ناروغ د خپلی ناروغی د منځه وړلو لپاره کوی.

**مثال:** یو ځلمی د ډیرو کسانو په مخکې خبری نه شی کولی ځکه چې ډاریږی چې غلطه خبره ونکړی. دلته ساپوه په لومړی پړاو کې د هغه کسانو چې ناروغ ورسره سروکار لری یوه فرضی غونډه جوړوی،او په دغه فرضی غونډه کې ویره لرونکی ته وائی چې یو څو خبری وکړی کله چې دغه خبری ښی تمرین او زده شی نو بیا په دوهم پړاو کې ناروغ په عملی ژوند کې د دغه تمرین څخه کار اخلی او ساپوه ته بیا د خپل عملی ژوند د خبرو او کړو وړو څخه خبر ورکوی او د ساپوه په سلا مشوره خپل بل ګام اخلی تر هغو چې د ډیرو کسانو په مخکی نه یوازی د خبرو کولو جوګه شی بلکی د خپلی خبری په سموالی د ټینګ دریدلو توان هم پیدا کړی او ویره ئې د منځه لاړه شی.

اوس به خپل لومړنی خبری ته راشو چې د ویری د ساوال درمل او مختلفو نظریو نښتون دی. دا خبره هم سړی په یوه مثال سره جوتولی شی.

**مثال :** یو زوړ سړی د یوی شړی لاری د تیریدو څخه ډاریږی.

د یونګ (Jung) د نظری په بنیاد چې ویره د ساوال انډول په خرابیدو کې وینی دغه سړی هله خپله ویره کمولی شی چې په لاره سیخ او نیغ لاړ شی ، نه ښی خواته او نه کینی خواته او نه شاته وګوری.

د ادلر (Adler) د ویری د نظری په بنسټ چې ویره د ځواکمن چاپیریال په مقابل کې د بی وسی او د کموالی د احساس نتیجه ګڼی پکار ده چې دغه زوړ سړی د چاله خوا په لاره بدرګه شی تر څو چې ځان ځواکمن حس کړی او پدی توګه ئې ویره کمه شی.

# د ویری د ځینو څیړنو لنډی نتیجی

## ویره او زده کړه :

ډارن کسان د غیرو ډارنو کسانو په پرتله اسان کار ښه زده کولی شی او اسانی پوښتنی ژر حل کولی شی خو په پیچلو کارونو او پوښتنو کې نتیجی د غیرو ډارنو څخه ډیری خرابی دی. د ډارنو کسانو د ښوونځی نتیجی هم د غیری ډارنو په پرتله خرابی دی.

## ویره او تنګسه :

ډارن کسان په تنګسه کې ډیر ګډو ډ کیږی نسبت غیرو ډارنو کسانو ته.

## ویره او هوښیارتیا :

غیری ډارن کسان په عمومی توګه د ډارنو کسانو څخه هوښیار دی. د ډارنو کسانو پلرونو په متوسطه توګه لږ سبق ویلی دی نسبت غیری ډارنو ته.

## ډار او مالوت :

په ډارنو کسانوکی ویره ونکی مالوت نسبت غیرو ډارنو کسانو ته زیاته اغیزه لری. سربیره پردی ډارن کسان په غونډو او بحثونو کې دی ته زیات چمتووالی ښائی چې خپله نظریه بدله کړی او د عمومی نظری سره سمون وکړی.

## ډار او مشرتوب :

ډارن کسان د مشرتوب وس او توان نلری او مخکښ کیدلی نه شی.

# خوښنه

**د ښاغلی عبدانصیر ستوری او ښاغلی عزیزالرحمن سرشار څخه ډیره خوښنه چې ددی کتاب په ترتیب او سینګار کې زیار ګالی دی .**

ډوکتور کبیر ستوری

## اخستونځي


( 1)
Hoffmeister in Fröhlich : Angst und Furcht , in Handbuch der Psychologie, Göttingen, 1965, 2. Bd, S. 516

( 2 )
Watson in Frölich : Angst und Furcht, in Handbuch der Psychologie, Göttingen, 1965, 2. Bd, S. 517

( 3 )
Freud, S.: Gesammelte Werke , Bd. XIV, Fischer Vlg., 1968, S. 154

( 4 )
Freud, S.: Gesammelte Werke , Bd. XIV, Fischer Vlg., 1968, S. 200

( 5 )
Jensen in Fröhlich : Angst und Furcht , in Handbuch der Psychologie, Göttingen, 1965, 2. Bd, S. 517

( 6 )
Anders in Kieholz P. : Angst, Psychische und somatische Aspekte, Vlg Hans Huber, Bern und Stuttgart, 1967, S. 25

( 7 )

Freud, S.: Gesammelte Werke , Bd. XIII, Fischer Vlg., 1964, S. 10

( 8 )

Labhard in Kieholz : Angst, Psychische und somatische Aspekte, Vlg Hans Huber, Bern und Stuttgart, 1967, S. 149

( 9 )

Frölich, W. D. : Angst und Furcht, in Handbuch der Psychologie, Göttingen, 1965, 2. Bd, S. 539f

( 10 )

Stori, K. : Phanomenologie und ausgewählte theoretische Ansätze zur Erfassung und Erklärung der Angst, Vordilplomarbeit in Fach Psychologie, Universität Frankfurt, 1970, S. 34 f.

( 11 )

Hall nach Fröhlich : Angst und Furcht , in Handbuch der Psychologie, Göttingen, 1965, 2. Bd, S. 519f.

( 12 )

Foppa, K. : Lernen, Gedädchtnis, Verhalten VLg. Kiepenheuer und Witsch, Köln, Berlin, 1965, S. 76 ff.

( 13 )

Freud, S.: Gesammelte Werke , Bd. XIII, Fischer Vlg., 1964, S. 1- 69 und S. 235 – 289

( 14 )

Brenner, Ch. : Grundzüge der Psychoanalyse, Fischer Vlg, 1967, S. 26 – 149

( 15 )

Brenner, Ch. : Grundzüge der Psychoanalyse, Fischer Vlg, 1967, S.54

( 16 )

Freud, S.: Gesammelte Werke , Bd. XVII, Fischer Vlg., 1968, S. 49

( 17 )

Freud in Condrau : Angst und Schuld als Grundprobleme der Psychotherapie, Vlg. Hans Huber, Bern und Stuttgart, 1962, S. 53

( 18 )

Freud, S.: Gesammelte Werke , Bd. XIV, Fischer Vlg., 1968, S. 170

( 19 )

Freud, S.: Gesammelte Werke , Bd. XIV, Fischer Vlg., 1968, S. 129

( 20 )

Freud, S.: Gesammelte Werke , Bd. XIV, Fischer Vlg., 1968, S. 200

( 21 )

Reich, W. : Chrakteranalyse, Berlin, 1933, S. 284 f

( 22 )

Condrau, G. : Angst und Schuld als Grundprobleme der Psychotherapie, Bern und Stuttgart, 1962, S. 9 – 149

( 23 )

Jung, C. G. : Bewusstes und Unbewustes, Fischer Bücherei , 1957, S. 7 – 33

( 24 )

Fromm, E. : Analytische Sozialpsychologie und Gesellschaftstheorie, Suhrkam Vlg. ; 1970, S. 145 – 161

( 25 )

Frankl, V. : Die Psychotherapie in der Praxis , Piper München 1986, S 61 – 200



Dr. rer. nat Kabir Stori
Diplom- Psychologe

ډوکتور کبیر ستوری
ډپلوم سا پوه

کبیر ستوری د ساینسي پوهنو ډوکتور ( Dr. rer. nat. ) د ډپلوم ساپوه ( Diplom-Psychologe ) په قام پښتون په تبر میرداد خیل او د بری پښتونخواد کونړ دتنر په کلی کښی(۲۰ / ۱۰ / ۱۹٤٦ ع) ځیږیدلی دی.

ده خپله لومړنی زده کړه د خاص کونړ په لومړنی ښوونځی او په کابل کښی د رحمان بابا په لیسه کښی او خپله لوړه زده کړه د جرمنئ د فرانکفورت، کولن او ماربورګ په پوهنتونونو کښی د ساپوهنی ( Psychology ) په څانګه کښی چی فلسفه ( Philosophy ) سیاسی پوهنه ( Pol.Science ) او ټولنپوهنه ( Sociology ) ور سره مل وه سرته رسولی ده.

ستوری پښتون سوشل ډیموکریټ دی. د پښتونو یووالی، خپلواکی او سوکالی د پاره ده ته د باچاخان نظریو ژوند وربخلی دی.